د محمد ﷺ محبت دایمان شرط دی

حضرت انس رضی الله عنه وایی : د الله رسول ﷺ فرمایلی دی : «هیڅوك د تاسی (کامل) مؤمن نشی کیدلی، څو زه ده ته له خپل پلاره، له خپل زویه او له ټولو خلکو څخه محبوب (ګران) شوی نه یم.

ژباړه - (مشکوة-کتاب الایمان)

شریعت

اونیزه

د افغانستان د طالبانو د اسلامی تحریك نشراتی ارګان

محمد ﷺ دالله رسول دی

محمد ﷺ د تاسی په سریو کی د هیڅ یو تن پلار نه دی، و لیکن د الله (جل جلاله) رسول (پیغمبر) دی او خاتم د أنبیاؤو دی (له ده نه وروسته بل نبی نشته) او الله (ج) په هرڅه باندی عالم دی.

ژباړه (الاحزاب : ٤١)

لومړی کال | نه ویشتمه ګڼه | دوشنبه د ١٣٧٥ هـ ش کال د اسد د میاشتی (٨) | د ١٩٩٦ میلادی کال د جولای (٢٩) | د ١٤١٧ ق کال ربیع الاول (١٤)

دپکتیکا والـــی محترم مولوی عبدالباقی حقـانی له خلکـــو سره په کـتـنـوکی :

تر څو پوری چی په هیواد کی اسلامی نظام نه وی ټینګ شوی او اسلامی شریعت نه وی نافذ شوی زموږ هلی ځلی به روانی وی

موږ عزم کړی دی چی دشهیدانو دوینو ثمره به ترلاسه کوو، دیتیمانو اوښکی به پاکوو او دجهاد عالی اهداف به لاس ته راوړو

له پکتیکا ولایت څخه زموږ خبریال خبر راکوی چی دغه ولایت والی محترم مولوی عبدالباقی حقانی دغه ولایت په ولسوالیو کی د اداری چارو او دخلکو د ژوند دلیدلو په غرض دنهو ولسوالیو دوره وکړه.

محترم والی د جانك خیلو، مشخیلو، خیرکوټ، سروبی، وره، خوشامند ګوملی، اورګون او وازی خوا ولسوالیو ته ولاړ او دهغو ولسوالیو دمسلمانو او دینداره خلکو له خوا یی دموټرونو، موټر سایکلونو او آسونو په سپرلیو په داسی حال کی تود هرکلی وشو چی سپین بیرغونه یی ریول او د الله اکبر نارې یی وهلی.

محترم والی عبدالباقی حقانی اوله هغه سره ملګری کاروان چی هری ولسوالی ته ورسید هلته دهغی ولسوالی د دیندارو اومسلمانو خلکو درندو غونډوته غاړانه او

پاتی په (٤) مخ

اسلامی تحریك د خپلـو هلو ځلـو تر څنګ عمرانی چـاری هم په چټکـی سـره پرمـخ بیایـی

دقام علماؤ اومشرانو ژمنه وکړه چی په پنځو ورځو کی به خالد (دحزب قومندان) خپله ټوله وسله طالبانو ته تسیلموی او له سیمی څخه به ځي

په هرات کی یوشمیر قوماندانان له اسلامی تحریك سره ملګری شول

دیویل خبر له مخی دهرات د ولایت د پښتون زرغون دولسوالی په مربوطاتو کی قوماندان محمد قاسم دخپلو ملګرو سره دهرات مسئولینو ته ځان وروسپارلی دی اودخپلی هر ډول همکاری ژمنی ئی ورسره کړی دي.

همدارنګه زموږ خبریال په یو بل خبر کی خبر راکوی چی

دهرات په ولایت کی دجمعیت لس نفرو قوماندانان دطالبانو داسلامی تحریك دمجاهدینو سره یوځای او خپل ملاتړ ئی د اسلامی تحریك له نیکی کړنلاری سره اعلان کړو. نوموړو قوماندانانو ژمنه وکړه چی دوی به په هیواد کی د اسلامی نظام په مینځ ته راتلو اوپه وطن کی د سرتاسری امن په تأمینولو کی له اسلامی تحریك څخه خپل هیڅ ډول مرستی ونه سپموی.

او په دی لار کی به داسلامی تحریك له مجاهدینو سره اوږه په اوږه دفساد په ضد خپلو مبارزو ته دوام ورکړي، نوموړو قوماندانانو څرګنده کړه چی موږ اوس پدی پوهیدلی یو چی طالبان دخپل ولس دوستان او ربانی او حکمتیار یی دښمنان دی.

اصلی جهاد هغه ده چی دالله د رضا لپاره وی (مولوی سیف الدین)

ټول شرقی اوغربی هیوادونه د طالبانو له اسلامی تحریک څخه په ویره کی دی

(مولوی نورمحمد ثاقب)

له کندهار څخه زموږ خبریال خبر راکوی چی دکندهار ددوهم لمبر قول اردو په قوماندانی کی دقوماندانانی دمسئولینو او طلباء کرامو په ګډون یوه

پاتی په (٤) مخ

په هیواد کی خپل منځی خبری ددی سبب شوی چی دجهاد اهداف تر خاورو لاندی شی (مولوی شهاب الدین دلاور)

لازمـه ده چی مـوږ دطالبانو داسلامی تحریک تر څنګ ودریږو (مولوی محمد صادق)

دطالبانو په سیمو کـی واقعاً اسلامی نظام نـافـذ او امنیت ټینـګ دی (ملك ظاهر)

له ناصرباغ کمپ څخه زموږ خبریال خبر راکوی چی دطالبانو داسلامی تحریك ترسیوری لاندی په هغه کمپ کی یوه پرتمینه غونډه وشوه، غونډه چی دهیواد زیات شمیر علماً کرام، قامی مشران، سپین ږیری، عام خلك او مینه وال پکی شریك وو دعظیم الشان قرآن دتلو

پاتی په (٤) مخ

زمـــوږ ددوستی معیار تقوی او پر هیزګـــاری ده

موږ هره ورځ درسمی کارونو له پای ته رسیدو سره دلوړ رتبه مامورینو شوری جوړوو او د ورځی ټول کارونه ارزیابی کوو (دغزنی والی ملاشفیق الله اخند)

څو ورځی دمخه دشریعت د اونیزی مسئول دیو لړ رسمی چارو د اجرا په غرض غزنی ته تللی و ، هلته یی دغزنی له والی محترم ملا شفیق الله اخوند سره دو لایت دچارو په اړه مرکه کړی ده چی داده د درنو لوستونکو مخی ته یی ږدو:

پوښتنه: محترم والی صاحب ! غزنی ته د طالبانو داسلامی تحریك دځواکونو له راتګ نه وړاندی دلته دولتی اداری څه ناڅه فعالی وی او دخلکو ورځنی چاری اجراکیدی آیا دطالبانو له راتګ سره په اداری چارو کی څه بدلون راغلی دی او څومره پرمختك شوی دی که مهربانی وکړئ درنو لوستونکو ته معلومات ورکړی بی ګټی به نه وی .

پاتی په (٤) مخ

په مسکوکی دائتلافی اداری سفیر دهغه هیواد دکورنیو چارو له وزیر څخه وغوښتل چی دافغانستان دکورنیو چارو له وزارت سره دی خپله زړه همکاری بیا پیل کړی (بی. بی. سی)

موږ روسانو ته خبر داری ورکوو چی بیادی زموږ په کورنیو چارو کی له لاس وهنی څخه ده وکړی او که نه نو له یوبل سخت ګوزار سره به مخامخ شی (دطالبانو نمایندګی-پیښور)

دبی .بی . سی دیوه خبر سره سم : په مسکوکی دکابل دائتلافی اداری سفیر عبدالوهاب عاطفی دچهارشنبی په ورځ د اسد په دریمه نیټه د روسیي د کورنیو چارو له وزیر اناتولی کوګیلوف سره وکتل.

په دی کتنه کی عاطفی له کوګیلوف څخه وغوښتل چی دافغانستان د کورنیو چارو له وزارت سره خپله زړه همکاری بیا پیل کړي.

د ١٣٥٧ کال د ثور له کودتا نه مخکی دافغانستان د کورنیو چارو وزارت له المان سره دهمکاری اړیکی درلودلی او دالمان دفنی

پاتی په (٤) مخ

اتلس کاله وروسته په کندهار اوهرات کی وررزشی لوبی پیل شوی

له کندهار اوهرات څخه زموږ خبریال خبر راکوی چی تراتلسو کلونو وروسته په دی ولایتونو کی د اولمپیك وررزشی لوبی بیا پیل شوي.

خبریال زیاتوی چی داتلاتڅا له نړیوال المپیك لوبو له پیل کیدو سره جوخت افغانی ورزشکارانو هم خپلی مسابقی پیل او د وررزش دمینه والـــو ننده یی مـــاته کـــړه.

ددغو لوبو دننداری لپاره چی دبیلو بیلو لوبو مختلفو ډیموتو لکه والیبال ، فتبال، سواك وهلو او کاراته بازیو لوبغاړو برخه درلوده په کندهار کی څه ناڅه اتوزرو کسانو اوپه هرات کی په زرګونو ننداره‌چیانو دهغوی ننداره وکړه.

دطالبانو دبدنی روزنی دچارو مسئول په دی اړه وویل: موږ کـــوښښ کـــوو چی ترخپـــل کنتـــرول لاندی سیمو کـــی داوسیدونکو ډولـــی ډولنیزی چاری وهڅوو او دخلکـــو دژوند اســـانتیاوی برابری کړو.

دمحترم امیرالمؤمنین دځانګړی فرمان له مخی دهیواد په بیلو بیلو سیمو کی دغه مقرری شوی دی :

د کندهار دولایت پخوانی والی محترم ملامحمد حسن آخند د هیواد دغربی ولایتونو(کندهار، هلمند ، غزنی ، ارزګان اوزابل) د تنظیمه رئیس په توګه وټاکل شو.

دغه راز محترم ملاعبدالرزاق اخند دهیواد دجنوبی ولایتونو(خوست ،پکتیکا ، لوګر اومیدان وردګ) دتنظیمه رئیس په حیث تعین شو.

همدارنګه دبیا وداتولو پخوانی رئیس محترم ملامحمد حسن اخند دکندهار د والی په توګه ټاکل شوي، ملامحمد رسول اخند د نیمروز د والی په حیث او ملا عبدالحمید اخند دپاکستان په صوبه سرحد کی پخوانی نماینده د بیاوداتولو د رئیس په توګه ټاکل شوی دي.

په دی توګه د اسلامی تحریك و پاند محترم ملا خیرالله خیرخواه د دوهم نمبر قولی اردو د دوهـــم مرستیال په توګه ټاکـــل شوی دي.

دیویل خبر له مـخی محترم حافظ عبدالمجید د شهیدانو او معیوبینو د رئیس په حیث ټاکل شوی دی . او زړ به دخپلی وظیفی په اجرا پیل وکړي.

جوهر دادایوف در شهر میونیخ جرمنی دریکی از مراکز نظامی ناتو تحت نظر قرار دارد

به اساس راپور خبر (پروادا) که یکی از روز نامه های مشهور روسیه میباشد ، جوهردودایف رهبر مجاهدین چیچنیا زنده بوده ودر جرمنی زنده گی میکند، قبل از این انکشاف یکی از قوماندانان چیچنی (سلمان رادیف) هفته گذشته ادعا نموده بود که جوهر دادایوف زنده میباشد ، در آنوقت روسها این ادعا را نمی پذیرفتند اما حالا در پهلوی ادعای سلمان رادیف، رهبر حزب کمونیست به شمول بسیاری از رهبران مهم روسی زنده بودن جوهر دادایوف را تصدیق میدارند.

قابل تذکر است که در سال جاری عیسوی ، برج اپریل خبر قتل موصوف در یك حمله راکتی روسها، انتشار یافت . به اساس خبر آژانس K.P.I پروادا گفته است که جوهر دادایوف در نتیجه یك پلان صلح آمیز امریکا وترکیه از صحنه کنار شد، زیرا رئیس جمهور روسیه از مذاکره با دادایوف ابا ، ورزیده بود.

خبر می افزاید که در پروګرام منزوی ساختن اشخاص مهم ورهبری چیچنیا قوماندانان مشهور چیچنیایی(سلمان رادایوف وشامل بسایوف) هم شامل بودند ، اما شامل بسایف با پروګرام متذکره مخالفت نمود وبه جای بر آمدن از چیچنیا به کوهای چیچین پناهنده شد وسلمان رادایوف در اثر یك حمله مجروح ګردید.

حسب ګفته اخبار متذکره جوهر دادایوف فعلاً درشهرمیونیخ جرمنی دریکی از مراکز نظامی ناتو تحت نظر قرار دارد.

خبر می افزاید که جوهر دادایوف ګفته میشود که از طریق جمهوریت داغستان به جرمنی رسیده است.

خانم جوهر دادایوف که روسی الاصل میباشد، خبر قتل شوهر خود را تائید نموده بود اما فعلاً از چند هفته به اینطرف لادرك میباشد.

د ملګرو ملتونو اهداف او تشکیل ٢ مخ

انسانانو د ژوند سیخـــه لار ومـــوندله ٣ مخ

دربانی او حکمتیار ائتلاف دطالبانو ... ٢ مخ

خدمات دینی و اجتماعی علماء در تاریخ معاصر کشور ص ٢

نوری که شرق تاغـــرب از آن روشن شد ص ٣

مبارك مولود ٣ مخ

لـنویه خـنـدایـه! ٣ مخ

پالنه او شیدی رودنه (رضاعت) ٣ مخ

دطالبانو نشتوالی دعالمانو نشتوالی دی او دطالبانو په نشتوالی زه هم نیست یم (مولوی محمد یونس خالص)

څو ورځی وړاندی جهادی مشر مولوی محمد یونس خالص له امیرالمؤمنین ملامحمد عمر اخند سره وکتل مولوی خالص او مرستیال یی محترم حاجی دین محمد حبیبی کندهار ته یی تشریف راوړی و دعالی شوری په خاص میلمستون کی له امیرالمؤمنین سره په داسی حال کی وکتل چی دغربی ولایتونو

پاتی په (٤) مخ

سرمقاله

مخلصانه مشوره

دملګرو ملتونو عمومی منشی په افغانستان کی دسولی اوامنیت د راوستلو په عنوان د ښاغلی محمود مستیری دناکامیدلو او یا دناکامولو نه وروسته ښاغلی ډاکټر رابرت هول دخپل ځانګړی استاذی په توګه ټاکلی دی.

ویل کیږی چی ډاکټر هول دآلمان د بهرنیو چارو په وزارت کی دجنوبی آسیا دچارو مسئول پاتی شوی.

چی په دی توګه دافغانستان اوسیمی په اړوند یی معلومات غنی بلل کیږي. موږ، دملګرو ملتونو دعمومی منشی ددغه اقدام مننه کوو چی جګړی ځپلی افغانستان یی لا تر اوسه په حافظه کی دی او ښاغلی ډاکټر هول ته ښه راغلاست وایو، خو ددی ترڅنګ دواړوته یوه مخلصانه مشوره هم لرو، هغه دا چی :

دملګرو ملتونو عمومی منشی ته پکاردی چی خپل ځانګړی استاذی ته دماموریت یوه داسی لائحه او لارښود ټکی په لاس ورکړی چی دافغانستان دمسئلی حل دافغانستان د اسلامی جهاد او افغانانو د اسلامی احساساتو په سیاق او سباق کی ولټوی، چی په نتیجه کی یی په افغانستان کی دمسلمانانو په لاس یو واقعی اسلامی حکومت چی دټولو افغانانو ارزو ده رامینځ ته شی.

ښاغلی ډاکټر هول ته پکار دی چی په افغانستان کی دسولی په پروسه کی دافغانستان دعامو خلکو ، مجاهدینو او مهاجرینو اسلامی احساسات په نظر کی ولری او دیوی داسی سولی هلی ځلی پیل کړی چی دفرمایشونو او قوماندو په ځای په هیواد کی دعینی شرایطو په مراعات کولو اوپه واقعیتونو باندی ولاړی وی.

لومړی، ملګری ملتونه دکابل موجوده غیر قانونی اوغیر نمایند ه اداره ، غیر قانونی اوغیر نماینده اعلان کړی. څو د جګړی یو عمده اواساسی عامل له مینځه یوړل شی. هغه دا چی تراوسه پوری د ربانی دفاسدی اداری د بقا وسیله یواځی هغه پیسی دی چی ددولت په نوم یی په

پاتی په (٢) مخ

احترام وتجلیل واقعی از میلاد پیامبر ﷺ، انست که درهمه ابعاد زندګی از سنت وی پیروی شود

شریعت

دامتیاز خاوند : دافغانستان دطالبانو اسلامی تحریك
دتأسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: دلیکوال هیئت تر کتنې لاندې
مسئول مدیر : مولوی احمد جان
تیلیفون : ۸٤۰۳۷۸
آدرس : په پیښورکی دطالبانو داسلامی تحریك نمائندگی
دیوی گڼی بیه : په هیواد کی (۳۰۰) افغانۍ
: په پاکستان کی (۳) کلداری

سرمقاله ...

پی شمیره اندازی چاپوی او دسیاسی رشوتونو، دکرایی دملیشو داخستلو او دخپل ملت په خلاف دجنگی ماشین دتقویه کولو دپاره یی پکاروی. اویل په بهر کی دافغانستان د دولت سیاسی نمایندگیو یا سفارتونه دی چی دخپلو مخالفینو (دطالبانو داسلامی تحریك) په خلاف یی د ناروا تبلیغاتو دخپرولو دپاره استعمالوی، چی په دی توگه یی تراوسه په هیواد کی سوله اوامنیت له مینځه وړی او دیوه مرکزی اسلامی حکومت دجوړولو مخه یی نیولی ده.

دوهم دا چی دملگرو ملتونو دسولی اساسی هدف په افغانستان کی باید دسولی او امنیت تضمینول او دیوه واقعی اسلامی حکومت تشکیلول وی چی د مسلمانو مجاهدینوپه لاسونو بایاً جوړشی. که دسولی په پروسه کی د روس او امریکا هغو دلچسپیو او ارزوگانو ته ځای ورکړل شی چی دیوه پراخ بنسټیه حکومت تر عنوان لاندی دی . د راتلونکی حکومت واگی د سیکولر (لادینه ملحدو) عناصرو ته په لاس کی ورکړل شی. چی دافغانستان دمسلمانو خلکو دگټو په ځای د دوی دگټو ساتندوی و اوسی، هیڅ امکان نه لری چی دغه دتش په نوم دسولی هلی ځلی او پروسه دی کامیابه شی اونه خو داهوول هلی ځلی دسولی هلی ځلی بلل کیدای شی بلکه د ا دآزاد او مستقل افغانستان په داخلی چارو کی لاس وهنه او داسلامی جهاد پرخلاف دسیسه ده چی دملگرو ملتونو له منشور څخه سرغړونه او دملگرو ملتونو له حیثیت اومقام څخه غلطه استفاده کول دی.

دریم دا چی په خپل هیئت کی دافغانستان دتباهی او ورانی دمسئول هیواد روسیه تبع باید شامل نه کړی ، داځکه چی روسان اوس هم لگیادی، د ربانی غیرقانونی اداری ته نظامی ، سیاسی اومالی مرستی ورکوی او غواړی په دی توگه بیرته پخوانی کمونستان او روسی ایجنټان قدرت ته ورسوی او دافغانستان دمسلمانو خلکو په خلاف جگړی ته ادامه ورکړی.

موږ هیله لرو چی دعمومی منشی ځانگړی استاذی به په افغانستان کی دسولی دصادقانه میشن په کامیابولو کی زموږ دی مخلصانه مشوری ته کلکه توجه وکړی.

په معاصرو پړیو کی بین المللی اړیکی :

دملگرو ملتونو اهداف او تشکیل

مولوی عبدالحکیم "مجاهد".

څلورمه برخه

۱- اهداف یامخی:

د ملگرو ملتونو د تنظیم د منشور (Charter) لومړی ماده ددغه تنظیم اهداف او مخی په څلورو ټکو کی بیانوی:

الف: بین المللی امن اوسوله :

په نړۍ کی د امن اوسولی فضا رامینځ ته کول. او ددغه هدف د ترلاسه کولو دپاره داسی مؤثر ټولنیز پلانونه او تدبیرونه غوره کول، چی دبین المللی قانون سره سم ټولی هغه بین المللی شخړی او چاری چی سولی او امن ته خطر وی او یا په چا باندی دتیری بڼه ولری، مخنیوی وکړی اوپه سوله ایزه توگه یی حل اوفصل کړی.

ب - مساوات :

دملتونو ترمینځ دحقوقو د برابری اوخپلواکی داصولو داحترام په ... ددوستانه اړیکو پراختیا ته ... او د بین المللی امنیت د استحکام په خاطر نور مناسب تدبیرونه او پلانونه جوړول دی.

ج- اقتصادی اوټولنیز تعاون :

دملتونو ترمینځ داقتصادی ، ټولنیزو او کلتوری مسایلو د حل په باب همکاری اوتعاون ایجادول اوپه دی هکله دمشکلاتو دحل په مقصد له هر ډول ، نژادی ، لسانی اومذهبی توپیرونه پرته د وگړو دبشری حقوقو او بنسټیزو آزادیو د احترام داصولو د تقویی اوتشویق د باره بین المللی گډ فعالیت رامینځ ته کول دی.

د - بین المللی همغږی:

دغه مؤسسه به دبین المللی گډو اهدافو او مقاصدو د ترلاسه کولو دپاره، دیوه مرکز حیثیت غوره کوی څوکړای شی دملتونو دفعالیتونو دتگلارو ترمینځ همغږی رامینځ ته کړی.

۲- اصول:

دملگرو ملتونو دتنظیم د منشور دوهمه ماده ددغه تنظیم داهدافو اومقاصدو د تر لاسه کولو دپاره لاندی اصول په گوته کوی.

۱- ددغی مؤسسی یا تنظیم بنسټ دملتونو د ټولوغړیو هیوادونو دخپلواکه برابر اومساوی حیثیت د ارلو اصول تشکیلوی.

۲- دتنظیم ټول غړی د زړه له کومی ټول هغه مسئولیتونه تر سره کوی چی د موجوده منشور له مخی پی منلی دی، څو دټولو دپاره هغه حقوق او گټی باوری شی چی ددغه تنظیم یا مؤسسی دغړیتوب له کبله دوی ته ترلاسه کیږی.

۳- ټول غړی هیوادونه بین المللی شخړی په سوله ایزه توگه داسی غوڅوی، چی بین المللی امنیت او سوله له خطر سره مخامخ نشی.

٤- ټول غړی هیوادونه به په بین المللی اړیکو کی دنورو هیوادونو د ټولو دسالمیت اوسیاسی آزادی په خلاف دقوت دتهدید او یا دهغه داستعمال څخه ډډه کوی. له داسی سلوك څخه به ځان ژغوری چی دملگرو ملتونو داهدافو سره سمون نه لری.

ه- ټول غړی هیوادونه په هر هغه کار کی چی دملگرو ملتونو دمؤسسی له منشور سره سم وی، دملگرو ملتونو پشپړه مرسته کوی. له هغه هیواد سره د مرستې ډډه کوی چی ملگرو ملتونو دهغه په خلاف بندیز لگولی وی او یا تأدیبی اجراآت کوی.

٦- دغه مؤسسه یا انجمن د اخیره باوری کوی چی دملگرو ملتونو څخه دباندی هیوادونه هم ددغی مؤسسی داصولو د ومره احترام کوی، څومره چی دبین المللی امن او سولی دساتلو دپاره ضروری وی.

۷- په دغه منشور کی دشاملو اصولو له مخی ، ملگری ملتونه حق نه لری چی دیوه هیواد په داسی چارو کی مداخلت وکړی چی هغه په حقیقت کی دهغه هیواد داخلی چاری وی، او نه خو کوم غړی هیواد مجبوروالای شی چی خپلی داخلی چاری ددغه منشور له مخی ملگرو ملتونو ته دفیصلی دپاره وړاندی کړی، البته دغه اصول دهغو تأدیبی اقداماتو مخه نشی نیولی چی په اوم باب کی لیکل شوی دی.

دیادولو وړ ده ، چی په اوم باب کی دهر هغه هیواد په خلاف چی له هغه څخه د امن د خرابولو ویره وی او یایی خراب کړی وی، د امنیت شوری دهغه په خلاف په اقتصادی بندیزونو برسیره له ځمکنی، بحری او هوایی قوځونو څخه هم کار اخستلی شی چی دبین المللی امن اوسولی دساتلو او یا دبیا راوستلو دپاره لازم وبللی شی.

دملگروملتونو اساسی اورگانونه :

دملگرو ملتونو دمؤسسی تنظیمی تشکیل له شپږو اساسی او اصلی اورگانونو (Organs) څخه جوړشوی دی ، چی په لاندی ډول دی:

۱- عمومی اسمبله (General Assembly) دملگرو ملتونو د مؤسسی له ټولو نه ستر اورگان دی چی له هر غړی هیواد څخه په غونډه کی دگډون دپاره پنځه تنه نمایندگان گډون کولای شی چی براځی د یوی رایی د ورکولو حق لری. عمومی اسمبله په کال کی یو ځلی د سپتمبر په میاشت کی کالنی غونډه کوی، خو دضرورت په وخت کی هر وخت کولای شی دعمومی منشی په بلنه داغونډه دایره شی. دغه اسمبله لومړی خپل رئیس ټاکی اوبیا دغه دڼیس غونډه پرانیزی. په عمومی اسمبله کی دعامو او کم اهمیته مسائلو فیصلی په ساده اکثریت سره کیږی او او دمهمو چارو پریکړه ددوه ثلثه د رایو په ورکولو سره غوڅیدلای شی.

۲- د امنیت شوری :

دملگرو ملتونو دمنشور په اووم باب کی لیکی چی دامنیت شوری (Security Council) له پنځلسو غړیو څخه جوړیږی، چی پنځه مستقل او اساسی غړی لری لکه: امریکا، برتانیا، چین ، روس اوفرانسه اولس غیر مستقل غړی لری چی دعمومی اسنبلی له خوا د دوو کالونو دپاره ټاکل کیږی. کوم هیواد چی یو ځلی خپل غړیتوب پایته ورسوی، بیا سمدستی دانتخاب حق نه لری . له هر غړی هیواد څخه یو تن په غونډه کی گډون کوی.

دملگرو ملتونو دغه اورگان ډیر زیات اختیارات لری چی نژدی ټوله موسسه د دوی له خوښی سره سم کارکوی، کومه فیصله چی دپنځو مستقلو غړو له گډو سره متضادمه وی هغه منسوخولی شی او دی ته په اصطلاح د تسیخ حق (Right of veto) ویل کیږی . دامنیت شوری کولای شی دامن د گډوډی د ویری او یا پیښیدلو په صورت کی په مرتکب هیواد باندی، اقتصادی بندیزونه دریځوی ، بحری ، بیړیو، هوایی الوتکو اونورو مخابراتی وسایلو د بشپړی او یا جزئی پریکړی او بندیز فیصله وکړی او دضرورت په وخت کی دهغه په خلاف دغړو هیوادونو بحری، ځمکنی او هوایی قوځ هم استعمالولی شی چی په دی توگه دوی ته دملگرو ملتونو اصلی واکمنان او چلونکی ویلای شو.

۳- اقتصادی اوټولنیزه شوری:

دملگرو ملتونو دمنشور په نهم باب کی لیکی چی : دغه شوری په ٥٤ (څلورپنځوس) هیوادونو باندی مشتمله ده، چی هر کال دعمومی اسنبلی له خوا اتلس غړی د دریو کالونو دپاره ټاکل کیږی. ددغی شوری غړی هیواد براځی یونمایندہ هلته استولی شی او براځی یوه رایه ورکولی شی.

دغه شوری عمومی اسنبلی ته دانسانی حقوقو او بنسټیزو ازادیو د احترام او دهغو درعایت په هکله رپوټونه او سپارښتونه وړاندی کوی، مسودی تیار وی او دخپل صلاحیت په چوکاټ کی دننه په اقتصادی ، اجتماعی او کلتوری چارو باندی غونډی او کانفرانسونه جوړوی.

٤- د قیمومیت شوری :

دملگرو ملتونو دمنشور دولسم باب دقیمومیت د شوری (Trustship Council) دتشکیل او اهدافو په هکله باندی لیکی چی : دغه شوری له دری ډولو هیوادونو څخه جوړیږی .

۱- د امنیت دشوری هغه مستقل غړی چی دکوم هیواد دقیمومیت مسئولیت ونه لری.

۲- هغه غړی چی عمومی اسنبله یی ددی دپاره ټاکی چی د اداره کونکیو او غیر اداره کونکیو هیوادونو ترمینځ توازن مراعات شی.

۳- دملگرو ملتونو هغه غړی هیوادونه چی د وروسته پاتی سیمو اداره وریه غاړه وی . دغه شوری دهغو وروسته پاتی هیوادونو اداری مسئولیت د برمختللیو هیوادونو په لاسونو کی ددی دپاره ورکوی چی دهغو دپاره دپرمختگ پلانونه برابر کړی او دپرمختگ په لورپی روان کړی، څو په سیاسی، اجتماعی او اقتصادی لحاظ په خپلو پښو باندی ودریږی. عراق، شام او فلسطین د ملگرو ملتونو له خوا دبرتانیا اوفرانس تر اداری او څارنی لاندی پاتی شوی دی.

ه- دبین المللی عدالت اداره :

دملگرو ملتونو دمنشور په څوارلسم باب کی دانصاف د بین المللی عدالت (International Court of Justice) د اداری دتشکیل او اهدافو په هکله لیکی چی : عمومی اسنبله او دامنیت شوری په گډه سره ۹ - قاضیان او ٦ مرستیال قاضیان دنه کالونو دپاره ټاکی. دغه قاضیان د دوهم ځلی دپاره هم انتخاب کیدای شی، دعدالت رئیس او نائب رئیس له همدوی څخه ټاکل کیږی، چی ددریو کالونو دپاره وی. ددغی اداری مرکز په هاگ (Hague) کی دی. ټولی فیصلی دنهو قاضیانو په گډ هیئت کی داکثریت پراساس باندی کیږی. په دغه عدالت کی دوسیی دمدعی او مدعی علیه هیوادونو په خوښه قضاوت کیږی، زیاتره دبین المللی معاهداتو ، سوله لیکونو ، دبین المللی قانون، بین المللی جرمیو، اوجرایمو تشریح ، توضیح او فیصلی کوی، عمومی اسنبلی او د امنیت شوری ته قانونی مشوری هم ورکوی.

ه- دارالانشاء :

دملگرو ملتونو دمنشور پنځلسم باب د دارالانشاء (Secretariat) په هکله باندی بحث کوی چی دعمومی منشی تر نظر لاندی اداره کیږی او مختلفی څانگی لری.

عمومی منشی د امنیت د شوری په وړاندیز عمومی اسنبله دپنځو کالونو دپاره ټاکی. په دغه اداره کی نژدی پنځه زره نفره کار کوی چی دنړی له ټولو ملتونو څخه باید توظیف شوی وی.

ټولی هغه شخړی چی نړیوال امن ته خطره وی، عمومی منشی یی دامنیت شوری ته وړاندی کوی او هغه بیا په دی اړوند دحل اوفصل د لارو او چارو پلټنه کوی. دملگرو ملتونو ټولی غونډی ددارالانشاء له لیاری تنظیمیږی، د هغوی د اجراآتو اسناد او ریکارډ ساتی. غړیو هیوادونو ته د ملگرو ملتونو له خوا لیکونه استوی او ترلاسه کوی یی . عمومی اسنبلی ته رپوټونه وړاندی کوی، دغونډو دبحث اجندا تیاروی او دټولو بین المللی معاهدو او تړونونو ثبتول ددغی اداری کار دی .

دملگروملتونو بین المللی نمائندگی:

ملگری ملتونه په پورتنیو ادارو برسیره یو شمیر بین المللی نمایندگی یامؤسسی لری چی دملگرو ملتونو له منشور سره سم فعالیتونه کوی چی یو څو یی په لاندی ډول دی:

۱- داتمی انرژۍ بین المللی آژانس (IAEA) ۲- د کار اوکار گر بین المللی مؤسسه (ILO) ۳- د خوراك او کرهنی مؤسسه (FAO) ٤- د روزنی او پوهنی علمی مؤسسه (UNESCO) ٥- د روغتیا نړیواله مؤسسه (WHO) ٦- نړیوال بانك (IBRD) ۷- د پراختیا بین المللی انجمن (IDA) ۸ - نړیوال پولی صندوق (IMF) ۹ - بین المللی مالی مؤسسه (IFC) ۱۰- دملکی هوانوردۍ بین المللی سازمان (ICAO) ۱۱- نړیواله پستی اتحادیه (UPU) ۱۲- دمخابراتو بین المللی اتحادیه (ITCU) ۱۳- دهوا پیژندنی بین المللی مؤسسه (WMO) سمندری بین الدولی مشورتی سازمان (IMCO) ۱٤- د روښنفکری دحقوقو نړیوال تشکیلات (WIPO) ۱٥- د کرهنی دپراختیا بین المللی مؤسسه (IFAD)

دا دول مؤسسات که څه هم خپل ازاد تشکیلات لری ، خو ددی دپاره چی ځانونه یی دملگرو ملتونو د اهدافو او اصولو پابند گرزولی دی، په ملگرو ملتونو پوری تړلی مؤسسی بللی کیږی.

خدمات دینی و اجتماعی علماء در تاریخ معاصر کشور

علماء و جامعه، روحانیت کشور محافظین و سپاهیان سرحدات جغرافیایی و نظریاتی کشور اند

نعمه جوادی

قسمت دوازدهم

جهاد های ضد انگلیسی و نقش علماء درآن :

حبیب الله خان از هند برتانیوی به کشور باز گشت وبه سیاست دوستی با انگلیس متعهد مانده وبه کال پافشاری سیاستی را کپدرش تعین وتثبیت نموده بود تائید میکرد.

ذهنیت عامه مردم افغانستان در مقابل حبیب الله خان بعداز سفرش از هند وشائعه کسب عضویت دریکی از لوژهای فرامیشن انگلیس در اگره تغییر فاحش نمود وچنین پنداشتند که امیر به این واسطه خود را در گرو برتانیه قرار داده است وهچنان امیر بعداز مراجعه از هند علیه مردم سخت گرفت وسیاست خشین را مقابل اوشان اعمال نمود.

شوروی وبرتانیه روی مصالح به خصوص منطقوی خود ها وجلوگیری ازتصادم میان هم در(۱۹۰۷م) معاهده امضاء نمودند که برای حفظ آسیای مرکزی وهند برتانوی ، کشور افغانستان به حیث حایل میان آن دو قدرت استعماری تعین وشناخته شد.

نویسنده کتاب (روابط خارجی، افغانستان در نیمه قرن بیست) (لودیك آدمك) به این ارتباط چنین مینویسد: « این عقد پیمان بین روس وانگلیس شاید از لحاظ بین المللی یك معیار صیانت وحفظ صلح تلقی شود. » تمام مراحل این معاهده میان طرفین به کلی سری وپوشیده انجام پزیرفت ، وبا امیر حبیب الله به این ارتباط هیچ نوع مشوره صورت نگرفت.

این معاهده به طرفین حق میداد که از حق تجارت مساوی ومتقابله در افغانستان استفاده نمایند وتجار طرفین روابط مستقیم تجاری وغیر سیاسی خود را با افغانستان برقرار دارند، نمایندگی های تجارتی هر دو کشور در افغانستان فعال گردد.

درمعاهد آمده بود که روابط سیاسی خود روس با افغانستان مثل سابق از طریق حکومت برتانیه با افغانستان برقرار سازد.

و همچنان در این معاهده آمده بود که این معاهده سری وقت جامعه عمل بپوشد که از طرف امیرافغانستان مورد تائید قراربگیرد.

این قرار داد روس وانگلیس که در آن موجودیت سیاسی افغانستان نادیده گرفته شده بود. به نوبه خود برای زمامداران افغان یك بحران بزرگ سیاسی خارجی محسوب میگردید که باید طرف افغان بدون مشتعل ساختن آن دو قدرت بزرگ این معضله خطیر ومهم را طوری حل وفصل نمایند که موجودیت وبقای خود را در نظر داشته باشد.

در اینجا یاد آور باید شد که روسها خیلی سعی وتلاشهای گوناگونی بخرچ دادند، که از راه ارسال کمکهای پرسونل فنی، تعلیم ، احداث پروژه های اقتصادی خط آهن و... راهی دو افغانستان برای حصول آرزوهای شیطانی خود بدست آرند ورجال مهم دولتی وملی را به خود متمایل سازند، اما از طرف دولت افغانستان آنهمه کوششهای اوشان به قاطعیت توأم باتدبیر خنثی و رد میگردید وبه هیچ شکل به روسها اجازه دست یابی به افغانستان داده نمیشود. روسهاهمچنان غرض دست یافتن به مقاصد دیرینه خود وآماده ساختن زمینه تطبیق پلانهای استعماری خود در افغانستان از سازمانهای جاسوسی استفاده بردند که در این زمینه وسایل وامکانیات مختلف را بکار گرفتند، اماطوریکه معلوم گردیده دولت افغانستان از این اقدامات روسها هم نمی هراسید وبا دقت وهوشیاری اعمال روسها را زیر نظر میگرد.

روسها که اقدامات وتلاشهای مستمر شان راغرض بدام افگندن امیر واعمال نفوس در میان مردم افغانستان ناکام یافتند، دست به اقدام دیگری زدند که داکتر حق شناس در کتاب خود (دسایس وجنایات روس در افغانستان) به آن اقدام چنین اشاره مینماید: « ... ودر آخرین مرحله توانستند باب آهنین را که سالها به رویشان بسته بود باکلید تجارت بگشایند وبه جای مناسبات سیاسی روابط تجاری برقرار نماید. نگارنده (حق شناس) فکر میکند که شاید فشار تجار داخلی ونیروهای مرموز دیگری، امیر حبیب الله خان را وادار کرده باشد تابه انجام همچون معامله ای موافقت کند وآغازی کاری را اجازه دهد که از هر اقدام دیگری خطر ناکتر بود.

واز این طریق روسهاتوانستند در بین افراد بانفوذ وسرمایه دار رخنه کنند وخیلی هم به راحتی وآسانی نقشه های خود را به مرحله اجراء وتطبیق قرار دهد وشبکه های جاسوسی خود را سروسامان بخشند. »

طوریکه گفته شد معاهده ۱۹۰۷م میان روس وانگلیس یك بحران مهم سیاسی خارجی پنداشته میشد که باتدبیر وعاملیت با آن برخورد باید صورت گیرد، حکومت انگلیس معاهده متذکره را به اساس که در متن توافق آمده بود به امضاء امیر افغانستان برسانند به همین اساس نایب السلطنة هند برتانیوی پیمانرا به امیر سپرد وامیر حکومت انگلیس را برای یك سال منتظر جواب اند. وبعداز یکسال در مورد آن معاهده چنین جواب داد که موافق ومطابق خواست حلقه ضد انگلیسی در بار که از طرف نصرالله خان (نایب السلطنة) رهبری میشد واز حمایه همه جانبه جامعه علماء وروحانیت کشور که زعامت جهاد وفعالیتهای ضد انگلیسی را در داخل وبیرون از سرحدات تحمیلی فعلی کشور بعهده داشتند برخوردار بود که در آن امده بود: (که آن پیمان، آزادی افغانستانرا سلب میکند وخود ارادیت آنرا برهم میزند. این پیمان نه تنها سودمند نیست بلکه برای برتانیا ، افغانستان زیان آور میباشد.) گرچه بودند تعداد از سرداران واشخاص ضعیف النفس رسمی کشور که فکر میکردند عدم موافقه باخواستهای انگریز منجربه تباهی افغانستان میشود.

در مقابل نصرالله خان نایب السلطنة امیر را زیر فشار وتهدید قرار داده بودکه، لودیك آدمك در کتاب خود(روابط خارجی افغانستان در نیمه اول قرن بیستم) به ان چنین تماس میگیرد:

« ... مگر سردار نصرالله خان برادر سکه امیر چنان امیر را تهدید میکرد: که اگر امیر آن پیمان را امضاء کند پس او ، باید به سمرقند فرار کند، دیگر جای اوافغانستان نخواهد بود و... »

به این شکل دولت افغانستان به اراده خود ثابت قدم ماند ودر تحت هیچگونه فشاری به امضاء آن معاهده تن درنداد.

بالاخره در سال ۱۹۰۸م روس وانگلیس به این موافقه رسیدند که امضاء امیر در معاهده الها شرط ضروری نیست وبه آن معاهده جامه، عملی باید پوشید.

در میان مردم عامه ذهنیت چنین بود که امیر آن معاهده را سری با انگلیس امضاء نموده واز این رهگذر امیر در ذهنیت عامه مورد خشم وقهر قرار گرفته بود و روز تا روز نفرت وانزجار عامه در مقابل آن وسیع وگسترده میگردید، در هر دو طرف سرحدات تحمیلی کشور که مرکز ومرجع اصلی فعالیتهای ضد انگلیزی را به خود گرفته بود، علیه انگریز تهدید های مجاهدین افزوده گردید، راجع به جهاد در سراسر سرحدات سخن زده میشد، ترور وربودن اشخاص مهم سیاسی شدت اختیار کرد ، مقدمات جهاد وجنگ گسترده وسیع ملی وازادی خواهی رشد واستحکام میتمود.

در میان مردم افغانستان در دوره امیر حبیب الله خان این ذهنیت وآگاهی کاملاً مشاهده میگردید که جهان اسلامی واسلام مواجه بیك خطر جدی از طرف کفار وبه خصوص اروپایهای صلیبی میباشد، واحساس این خطر میشد که مبادا جنگ صلیبی نوین رویکارآید وبربادی جهان اسلام را به میان آورد. قبل ازجنگ عمومی اول احساس بین المللی اسلامی والحاد جهان اسلام تحت قیادت و رهبری خلافت ترکی عثمانی در میان مردم افغانستان به وضوح مشاهده میگردید، وخاصتاً جنگ ترك وایتالیادر(۱۹۱۱م) وجنگهای بالکانات به گفته (لودیك آدمك): « افغانها را به سیاست جهان آشنا ساخته بود وبرایشان درس اتحاد، وحدت وثبات اسلامی را داده بود. » خلافت اسلامی عثمانی ترکی که پنج نیم قرن ضامن وکفیل وحدت ویگانگی سیاسی ونظامی جهان اسلام پنداشته شده ویگانه سد عظیمی مقابل آرزوهای استعماری اروپائی صلیبی به حساب میامد، دست خوش حوادث وتوطئه های داخلی وخارجی به سرپرستی یهودیت وتبشیر گردیده بود. حرکتهای الحادی ناسیونالیستی سیکولریستی طورانی وعربی به رهبری وپشت پناهی یهود وماسونیزم جهانی چه در داخل مرکز خلافت (ترکیه) وچه در واحد های تحت سلطه خلافت(جهان عرب) خلافت را به ناتوانی وسقوط مواجه گردانیده بود. تحریکهای ناسیونالیستی عربی که اکثر بلکه همه رجال موسس وپیشتاز آن را مبشرین عیسوی ویهودهای ماسونی تشکیل میداد با شمول بعضی از رجال سیاسی وقومی مقتدر آن دیار طرف انگلیس را در جنگ عمومی اول علیه خلافت عثمانی گرفتند به زعم اینکه استقلال اوشان از طرف متحدین به رسمیت شناخته خواهد شد که در نتیجه این خیانت که علیه اسلام ومسلمین ووحدت جامعه اسلامی از خود نشان دادند، به جزء از مستعمره شدن انگلیس ، فرانسه وایتالیا چیزه دیگربدست نیاوردند.

در کشورعزیز واسلامی افغانستان برخلاف وضع داخلی ترکیه وجهان عربی همبستگی واحساس اخوت باخلافت اسلامی بیشتر مشاهده میگردید، جامعه روحانیت وعلماء، کشور وعامه ملت مسلمان افغان برای حفظ ، قوام واستحکام خلافت به هر نوع ایثار وفداکاری آماده بودند.

بقیه در ص (۳)

دحضرت مولانا محمد ابراهیم فانی صاحب اخباری بیان :

دربانی اوحکمتیار ائتلاف د طالبانو دشرعی حکومت خلاف دبین الاقوامی سازش یوه برخه ده

چیرته چی باطل وی هلته ورسره حق ولاړ وی

هرکله چی دیولوی طویل جدوجهد او د وینو د قربانیو نه پس افغانستان د سوراستعمار او د روسی کمیونستی نظام نه خلاصی بیاموند، نوبه ټوله اسلامی نړۍ کښی دخوشالۍ نرمه هوا والوتله او ددنیا ټول اسلامی جهادی قوتونه په دی امید شول چه اوس به زموږ تحریکونو ته تقویت ورسی اوپخپله زموږ دپاکستان علماء و او دیندارو پرگنو دآرام ساه واخستله . چه موږ به اوس په خپلو سترگو دخلافت راشده په بڼه او طریقه رایج نظام ددنیا په یوه کونج کښی وینو ولی دایو ارمان و او ارمان پاتی شو افغانستان د روس له تښتیدونه پس په اوله مرحله کی چی څه وشول دهغی نه دا خبره په راگه جرگنده شوه،

«چی دافغانستان مستقبل نامعلوم دی دهغوی جهادی مشرانو ته چه کومی هیلی موږ ساده مسلمانانو په زړه کښی ساتلی وی . هغه تس نس شوی. او موږ ته ددغو خلقو اصلی مخونه ښکاره شول په هر حال دا یو طویل او بوکتوونکی داستان دی چی په دی باندی گوټی کتاب ضرورت دی.

د ا دالله فضل دی چه دخدایی قانون مطابق چیرته باطل وی هلته ورسره په مقابله کی حق سر په سر ولاړ وی او دبرخیز دشری که خبرمادران باشد». ددغه ظلم ستم او دالغاؤتلغاؤ په تناظر کښی د طالبانو اسلامی تحریك راپورته شو. او هغه سوچه مجاهدین چه دجهاد ابتداء هم دوی کړی وه ددغو ظالمو ، شکم پرستو خلاف جهاد دپاره را ووتل او ویره زړبی دالله په خصوصی فضل اوکرم سره فتح حاصله کړه، او د بده مرغه دهغو کسانو دلاسه چی ځان ته مجاهدین وایی په سوونو علماء ، ددین حاملین دقرآن پاك حافظان شهیدان کړی شول.

دتعجب خبره داده چه دتن نه څو کاله اگاهو حکمتیار ته وزارت عظمی حواله کیدو خو ده هغه ته قبلولو او دهغی نه پس دشپیتو زرو نه زیات مسلمانان په کابل کښی دحکمتیار او د ربانی ددښمنی په وجه ووژلی شول نوکه په هغه وخت کښی ده خپل دا منصب سنبال کړی وای . نو دومره نقصان به نه و شوی اوس دده دا صدارت قبلول څرنگه داسی کاردی چی زموږ له عقل نه بهر دی.

آنچه دانا کند نکند نادان
ولی بعدازخرابی بسیار

د ربانی اود حکمتیار په مینځ کښی هیڅ فاصله نشته البته دوی د یو فکر بلکه دخاصی نظریی څښتنان دی او ددوی ددی وړاندینی جگړی نه داخبره څرگندیږی. چی داقتدار نشه په هرڅه غلبه لری.

چی هرکله طالبان را اوچت شول او دهغوی په مرسته دافغانستان ټول اولس ودریدو اوهغوی ته یی په هرځای کښی نود هرکلی ووایه ، نو دا په ربانی او دهغه په ملگرو باندی دمسلمان ملت یوښکاره او واضحه دبی اعتمادی دلیل و پکار داوه چی دوی پخپله طالبانو ته لار آزاده کړی وای. او داقتدار چوکی بی پرایښی وای. بلکی که ددوی په زړه کښی څه هم داسلام ، شریعت او دافغانستان دخلقو سره مرسته وای نو دوی به دا طالبان یو خدایی او الهی امداد گڼلی و چی دافغانستان د اولس حقیقی خواخوږی میدان ته راغلل بس نور زموږ وظیفه ختمه شوه.

لیکن په ځای ددی دربانی رژیم دطالبانو په مقابل کښی دروس کمونستان او دانډیاهندوان او دیوروپ یهودیان اوعیسایان را وبلل موږ دا پوښتنه کوو چی داخلق نه دچا په مقابله کښی راولی؟

ددین دطالبانو دشریعت په قانون پوهو عالمانو او دحافظانو دقرآن په مقابله کښی ؟ ډیره زیاته دافسوس خبره ده.

نن دا چی دا څه عینی اشاره وه ؟ حکمتیار چی تر اوسه پوری په ربانی باندی ډیر ناوړه الزامات او تهمتونه لگول او بیا فوراً دقاضی حسین احمد په رابطه دواړه یو شول اول خوشرعی اخلاقی او دمروت تقاضا داوه . چی چونکه په افغانستان کښی په زیاته علاقه باندی دطالبانو کنترول دی باید هغوی ته دوی دعوت ورکړی وای . ولی اوس له ربانی سره حکمتیار هم خپلی ټولی خبری خبری کړی اوپه اقتدار کی ورسره شریك شو دا د افغانستان خلاف دبین الاقوامی سازش یوه لویه برخه معلومیږی . او اوس خو دا ائتلافی حکومت د امریکی کلتن هم منلی دی. چونکه دطالبانو زیر تسلط علاقه کښی خالص شرعی قانون دی تنفیذ د احکامو الهیه و دی داکله یوروپ مغرب او نور استعماری قوتونه منلی شی په دی وجه ددی تحریك دختمولو بین الاقوامی سازشونه ډیر په زور او شور سره روان دی لیکن د دوی دا ناوړه گوښښونه او سازشونه به انشاء الله نه کامیابیږی.

دپاکستان ټولو علماء، و او مشایخو له پکار دی چی دطالبانو د تحریك پوره پوره ملاتړ او ملگرتیا وکړی چی دا تحریك په دی بوویشتمه صدی کښی د داخلیدو دخلافت راشده زیری وگرځی.

وماذالك علی الله بعزیز

میلاد پیامبر بزرگ اسلام را به ملت مسلمان و مجاهد افغان و کافهٔ امت اسلامی تبریک میگوئیم

ماه ربیع الاول ولادت باسعادت که شرق تاغرب ازآن روشن شد، هجرت که قدرت وسلطه مسلمانان به اساس آن استحکام یافت ووفات حسرت آوري، آنحضرت صلی الله علیه وسلم را در بر دارد.

غروال

مبارك مولود

داستا په‌مینه‌به‌خپل سرکړمه قربان‌رسوله!
ستاله نامه نه صدقه شه ټول جهان رسوله!
زما د زړه مینه یوه ده بدلیدلی نه شي
مینه می اورنه هم توده ده شړیدلی نه شي
داهغه مینه ده چی لسوری بدلولی نه شي
داهغه مینه ده چی پله‌ځایولی نه شي
مابه دی مینه ازمویلی دی خپل ځان رسوله!
ستاله‌نامه‌نه‌صدقه‌شه‌ټول‌جهان‌رسوله!
ستا مینه څه ده دلوی خدای (ج) دبندګی مینه ده
دامینه، مینه دانسان دآزادی مینه ده
دا مینه خپلو کی دمینی او ورورۍ مینه ده
دحق په‌لارکی دخپل سر دقربانی مینه ده
داستاپه‌مینه‌شول‌پیدا ځمکه، آسمان رسوله!
ستاله نامه نه صدقه شه ټول جهان رسوله!
تاپه تورتم کی دژوندون ډیوه روښانه کړله
تاګزلیچونوکی دیون لاره آسانه کړله
تادجبارو، مستکبرو مانۍ ورانه کړله
تاپه‌شغلو د وحدانیت نړۍ روښانه کړله
دژوند بهیره دی کړ په‌سمه‌لار روان رسوله!
ستاله‌نامه‌نه‌صدقه‌شه‌ټول‌جهان‌رسوله!
ستامبارك‌مولود په‌ژوند کی ستر بدلون راوستو
خورو وروته یي وحدت اوپیوستون راوستو
له‌شقاوت اوسرکشی‌نه یي بیلتون راوستو
دحق په مینه یي له حق سره تړون راوستو
تیاره ګوښه‌نه شول دحق په‌لمر روښان رسوله!
ستاله‌نامه‌نه‌صدقه‌شه‌ټول‌جهان‌رسوله!
دخدای (ج) بنده دبندګانو بندګی پرېښوده
آزادانسان دانسانانو غلامی پرېښوده
انسان دحق په‌لور دیویل تباهی پرېښوده
دنیا تورتم او تاریکو د ظلماني پرېښوده
غروال د ژوند د آزادۍ د ی په‌ارمان رسوله!
ستاله‌نامه‌نه‌صدقه‌شه‌ټول‌جهان‌رسوله!

حقیقت محمدیه (ص)

مولوی خنجری

اي بهترین قباي رسالت را به بر
تاجي زنور نغز نبوت ترا بسر
اي نام نامي تو سر اغاز هر سخن
کم بود گر نوشتمي اسمت به آب زر
تخمین حسن وجلوه ات ازعقل کل بیرون
دانم همین قدر که نگنجد به بحر وبر
حیران عقول ما به علوم کتاب تو
روشن زنور معرفتش شد ره بشر
قرآن مانگر که ترا زنده معجزه است
بنگر نصیب توهمگي نصرت وظفر
هر حرف تو هدایت ما جامع الکلم
اي افصح عرب که کلامت درو گهر
شان ترا ستود به اخلاص (خنجري)
میکن بسوي حالت زارش تویك نظر

لویه خدایه !

مولوی سید محمود «شبیر»

لویه خدایه زموږ ملك رانه ودا ن کړې
ډېر سپین زیری موږ وندی په خاورو خښ شول
مسجدونه نی را وران کړل په تویوتو
په یونونی وطن رانه تباه کړو
افغانی مسلمانان سره یوسف کړی
یومو دین یو مسر وطن یو موطنب دی
کانی بوش ټول زموږ په وینو رنګ شول
دا تحریك دطالبانو بریالی کړی
لویه خدایه دښمنان د ځالبانو
د(شبیر) ارمان پوره کړی لویه خدایه

ته حاکم زموږ په خاوره کی قرآن کړی
خدایه ورك له ټول جهان نه ملحدا ن کړی
لویه خدایه ته تباه دا ظالمان کړی
خدایه ورك له دی دنیا نه دا روسیان کړی
لویه خدایه متحد ټول مسلمانان کړی
په یوه بیرغ راغونډ مسلمانان کړی
تورپوره د آزادی زموږ ارمان کړی
لویه خدایه سلط نی په جهان کړی
خوار وزار او شرمنده په ټول جهان کړی
طالبان زموږ په خاوره حاکمان کړی

آنحضرت ﷺ می فرماید :

(آیا شما را از نخستین امر در باره خودآگاه نسازم؟ من دعای ابراهیم «علیه السلام» مژده عیسي «علیه السلام» وروپای مادرم میباشم، دعای پسدرم ابراهیم چنین بود : (پروردگارا ! درمیان شان پیامبری از خود شان برانگیز که آیات ترابرآنها تلاوت کند وکتاب وحکمت را به ایشان بیاموزد وآنها را پاك سازد هرآئینه توغالب وبا حکمتي)

ترجمه آیة -۱۲۹ سورة بقره.

مژده عیسی «علیه السلام» در این قول خد آمده : (وآنگاه که گفت عیسی پسر مریم ای بنی اسرائیل هر آئینه من فرستاده خدا سوی شمایم تصدیق کننده آنچه پیش ازمن بوده از تورات ومژده دهنده به فرستاده ای که پس از من میاید نامش احمداست)

ترجمه آیة ٦ سوره الصف.

رویای مادرم چنین است : آمنه بنت وهب مادرم در خواب میبیند که نور بزرگی از وی برون میشود که قصورشام به آن روشن میگردد.

وصلی الله تعالی علیه وعلی اله واصحابه اجمعین

د آنحضرت (ﷺ)

پالنه او شیدي رودنه (رضاعت)

الحاج مولوی احمد جان

رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ته الله جل جلاله مخکی دنبوت او روسته دنبوت نه په ډیر ارهاصات او معجزی ورکړی دی، زه غواړم چی دده مبارك دپالنی په باب څه ناڅه معلومات ولیکم.

دده مبارك دولادت نه ترڅلورو ورځو پوری خپلی مبارکی مور بی بی امنی شیدی ورکړی له هغه نه وروسته «ابولهب ازادی کړی شوی وینځی ثویبه شیدی ورکړی چی همدی ثویبی، حضرت حمزه او ابوسلمه رضی الله عنهما ته هم شیدی ورکړی وی چی په همدی وجه دوی دواړه مبارکان د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم رضاعی ورونه دی.

ثویبه هغه وینځه وه چی ابولهب د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د ولادت په زیری کی ازاده کړی وه. حضرت عباس رضی الله عنه فرمایي چی یوه ورځ می ابولهب په ډیر بد حالت په خوب ولید او راته بې وویل له کومی ورځی څخه چی له تاسو نه جدا شوی یم راحت می نه دی لیدلی پرته له هغی دو-شنبی ورځی څخه چی ثویبه می ازاده کړی راحت راته حاصلیږی اوله دی نه وروسته بیا نبی علیه سلام ته حضرت حلیمی رضی الله عنها شیدی ورکړی دي.

اصلاً په عربو کی دامادات و چی دلوړی طبقی خلکو به خپل د ښدو ماشومان کلیو بانډو ته استول ترڅو دهغه روزنه په صافه هواکی وشی او په سوچه عربی ژبه فصاحت او عربی خصوصیاتو پوه شي. لکه حضرت عمر رضی الله عنه به ویل تمعدوا ، تمعزروا واخشوشنوا.

دمعد بن عدنان عادت اختیارکړي (عربی روایات مه پریږدئ) ډیر دو لباس مه خپلوی، اوبه سختیو صبر وکړئ.

نو دهمدی دستور مطابق به دبنوسعدو ربنجی مکی مکرمی ته راتلی ترڅو د ځان لپاره په مزدوری ماشوم پیدا کړی او دشدو ورکولو ضمانت یې وکړي.

بی بی حلیمه «رض» وایي چی زه هم دبنوسعدوله ښځو سره په داسی حال کی چی یوه‌کمزوری سپرلی (خر) می درلوده چی د وهلو ، ټکولو په زور مې مکی مکرمی ته رارسولی وه او یو داسی خواره اوښه راسره وه چی له غولانځی نه یې څاڅکی نه بوږیده مکی مکرمی ته راغلم ،هلته ټولو ښځو له ځان سره ماشومان واخیستل خو ما ته چی خلکو کتل چی خپل ماشوم می هم په شیدونه ومړوتو هیچا راته ماشوم رانه کړ د روانیدو په وخت می له همزولو سره دسپالی په وجه هغه یتیم ماشوم چی څو واری غری یوی ته پیش شوی و هغوی یواځې ددی په خاطر چی یتیم و پلاریي نه درلود پرایښی و راسره می واخیست.

خاوند می هم راته وویل چی ښه دی وکړل امید دی چی الله جل جلاله به‌راته یکی برکت واچوي.

همدا و چی د اخیستو سره می تی له پیونه ولك شول چی ل ساعت وروسته می ددواړو جهانو سردار دور یتیم اوخپل ماشوم دواړه ماره کړل او اوښی ته چی ورغلم دومره شیدی یې راکړی چی زه او خاوند می دواړه ماره شواو له څو ورځو وروسته مو د راحت شپه تیره کړه ځکه چی مخکی ما شیدی نه درلودي. ماشوم به مو تر سهاره ژړل او موږ به هم له دی وجی نه چی اوښی کافی شیدی نه‌راکولی له‌لوږی نه‌ترسهاره ربي مترګی ناست وو.

سبا چی روانیدو هغه سپرلی چی دکلی لخوا دکوتك په زور راغلی وه له دی خوا نه هسی تر ټولونه مخکی روانه وه چی ټولی ملګری می ورته په تعجیب کی وو. کلی ته چی ولاړو هلته هم داسی برکات وو چی ټول خلق ورته حیران وو په ‌دی ورځو کی محصول قحطی وه باراتونه کم وو خو بیا په هم دحلیمی وزی چی کورته راتلی نسو نه به بی په شا اوښتی وو. او غولانځی به بې له پیو ډکی وی، سره له دې چی دعامو خلکو وزی به وزی راتلی په غولانځو کی به بې څاڅکی نه پیدا کیده. دا وایی خلکو خپلو شپنو ته منت کاوه چی دحلیمی وزی چی چیرته څری هلته بې بوځی ، خو سره له دی هم چی په یوه ځړځای به ټولو څارویو څړل بیا به هم دحلیمی وزی مړی او غولانځی به بې ډکی وی خودنورو دوزو په غولانځو کی به بې هیڅ نه وو.

دا یوه نمونه د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د برکاتو او معجزو ده چی په دی ورل ډیری معجزی الله جل جلاله خپل تبازولي پیغام وروتګی ته مخکی دنبوت اوروسته دنبوت نه ورکړی دي.

خو هغو کسانو چی الله جل جلاله بې زړونه تور کړی وو ددی ټولو خدایي تائیداتو سره دهغهٔ مبارك خلاف په مختلف اندازګی بد ویل اوبد سلوکی کړی ده اوهم بې په عملي میدان کی د هغه مبارك دپاك پیغام مخنیوی کړی دی. نوزه ټولو ملګرو ته وا ورکوم چی باید ددښمنانو ، منافقینو په بدو ویلو او ددوی پرخلاف دجنګ کولو نه خپه نه شی ځکه چی رسول اکرم صلی الله علیه وسلم سره داکیدل اودهغه په وخت کی دهغه د راوړل شوی قانون مخنیوی کیده ،نوموږ چی دهغوی مبارك ورثه یو او دهغه زمانه هم نه ده اومنافقین، دنیا پرست، قدرت پرست هم ډیر دی ضرور به مومخالفتونه کیږی اوبد ویل او جنګونه به مو په خلاف اعلانیږي.

خدمات دینی و اجتماعی علماء...

خلافت عثمانی در جنگ عمومی اول درکنار جرمنی علیه انگلیس و متحدین قرار گرفت واز مسلمین جهان میخواستکه در این جنگ طرف قوای مرکزی رابه نفع ترکیه علیه انگلیس وقوای متحدین بگیرند که افغانستان در این مورد از همه کرده پیش وبیش روی موقعیت استراتیژیك خود که داشت منافع حیاتی وبزرگ انگلیس را به خصوص منافع اقتصادی آنرا در هند مورد تهدید قرار داده میتوانست. ومردم افغانستان هم از قبل منتظر فرصتی بودند که اوشانرا امر وهدایت جهاد وقیام علیه انگریز را بدهند، احساسات ضد انگلیسی افغانها ازآن روزیکه خلافت عثمانی علیه انگلیس قرار گرفته بود به شدت به جوش وغلیان آمده بود. ومسلمانها وحتی جامعه هندوی هند هم به نفع. خلافت وعلیه انگریز شعار میدادند. چشم فردوی (خلافت ومسلمانان هند) بطرف افغانستان دوخته شده بود.

امیر افغانستان هنگامیکه جنگ جهانی اول درگرفت،دست بسته درانتظار دوستی انگلیس نشست ودر یك جلسه ئی در بار «بیطرفی» افغانستانرا به تبعیت از اراده وخوشی انگلیس در قصر استور(۱۳۳۲قمری) به حضور سفیر انگلیس اطمینان داد. در حالیکه در افغانستان فکر عمومی بطرف جهاد وقیام علیه انگلیس بود. ومردم مجاهد سرحدات آزاد افغانستان درخزان همین سال علیه انگلیس قیام کردند.

بتاریخ ۱۹۱۵م هیئات مشترك المان ترکیه واسترلیا بانامه های ویلهم دوم امپراطور جرمنی ومحمد رشاد خامس خلیفه ترك وارد افغانستان گردید وخواستار اتحاد مشترك نظامی علیه انگلیس شدند. این هیئات تا۱۱می ۱۹۱٤م،درافغانستان باقی ماندند.

امیر افغانستان علی الرغم ذهنیت عامه مردم افغانستان در جدگه اکتوبر ۱۹۱۵م و۱۲ذیقعده ۱۳۳۳ هـ ق بیطرفی خود را اعلان کرد واز داخل شدن به جنگ علیه انگلیس پرهیز نمود، این کار امیر در حال صورت گرفت که تعداد بزرگ درباریان ومامورین دولتی به رهبری نصرالله خان نایب السلطنة طرفدار اتحاد باقوای مرکزی وداخل شدن به جنگ علیه انگلیس بودند. ملت مسلمان افغانستان به اشتیاق زایدالوصف سخن از جهاد وقیام میزدند ومردم مجاهد وزیری از۱۹۱٦م تا ۱۹۱۷م جهاد مسلحانه خود را علیه انگلیس ادامه دادند، با این همه احساسات ضد انگلیسی مردم وخواهش جدی اوشان، به جهاد علیه انگلیس واتحاد با قوای مرکزی ، امیر هیئات دول متذکره را ناکام رخصت کرد وبه گفته غبار: « خود در جرگه عمومی (۱۹۱۵م) تمام رهبران احتمالی جهاد را در کابل مشغول نگهداشت، مهمترین اینها از علمای مذهبی بودند» بلی! جامعه روحانیت وعلماء افغانستان جدا از سیاست های غیر اسلامی وملی حکومت ها همیشه مطابق حکم شریعت ومنافع علمای دینی وملی کشور اندیشیده اند وآنچه شریعت ودین حکم داشته به آن تمسك جسته اند، علماء کشور جهاد وقیام علیه انگلیس را در این مقطع از تاریخ وزمان که خلافت اسلامی علیه انگلیس داخل جنگ گردیده بود. نهایت ضروری ومفید به منافع ملی وبین المللی اسلامی میدانستند وحفظ خلافت اسلامی را که سمبول وحدت جهان اسلام پنداشته میشد از وجایب عمده اسلامی وبین المسلمین خود میپنداشتند وتاکید داشتند که امیر اعلان جهاد دهد که متأسفانه چنین نشد. غبار این رهبران معظم روحانی جهادی کشور را چنین معرفی میدارد: « باچاصاحب اسلامپور(ماذون ملاصاحب نجم الدین هده) ملاصاحب محمدجان موسهی پسر جناب فیض محمد صاحب (ماذون ملاصاحب عبدالغفور سوات) ملاصاحب تګاب (ماذون ملاصاحب هده) باچاصاحب تیرګری (ماذون ملاصاحب هده) میان صاحب برو، میان صاحب حصارك، استاد آخندزاده صاحب هده، شمس الحق صاحب، حافظ جی پسر صوفی صاحب ، ملامحمد مرید صاحب، ملاصاحب عبدالغفار ، شیخان صاحبان وپسران مجددی شوربازار(جنابان حضرت شمس المشایخ صاحب وحضرت نورالمشایخ صاحب) رحمهم الله اجمعین وغیره» امیر حبیب الله تلاشهای مزبوحانه کرد تاتوانسته باشد بنام اطاعت شرعی از امیر،از قیام وجهاد مردم افغانستان وسرحدات آزاد افغان جلوگیری نماید، به این ارتباط رساله های اطاعت از اولی الامر را چاپ ودر میان مردم توزیع نمودند که اثرمطلوب دربرنداشت، امیر میخواست که از حضور هیئات المان ، ترك به حیث یك وسیله فشار علیه انگلیس استفاده برده واز راه مفاهمه به آرزوی خود (حصول استقلال) برسد ، نه از راه جنگ که متاسفانه این همه مساعی بزدلانه وخود سرانه آن دریك مرحله حساس وبحرانی که همه شرایط به نفع جهاد وقیام آماده بود بالعکس به نفع انگلیس تمام شد وطرف افغانستان،هیچ چیزی بدست نیاورد، حتی انگلیس مبلغ ٦۰ ملیون حق سکوت وسالانه نادو ملیون چهارصد هزار کلدار که به افغانستان باید می پرداخت بعداز ختم جنگ بیکی ازعملی نکرد.

درنتیجه این روحش وسیاست ناکام امیر در داخل کشور متنفروانزجار عمیق ملت را باعث گردید . ومقدمه قیام عامه علیه انگلیس همه جانبه آماده شد وجلوگیری ازآن بعید مینمود که در ۲۱ فروری ۱۹۱۹ امیر در اثر یك کودتای داخل دربار از بین رفت وزمینه قیام علیه انگلیس مهیا گردید.

نوری که شرق تا غرب ازان روشن شد

هوتکی

بشریت در تاریخ کره خاکی شاهد ایام وروزهای بوده اند که یقیناً امید ها وارزوهای واقعی حضرت انسان به آن وابسته بوده و اغازی شده برای نوآوری ودیگر گونی های بزرگ اجتماعی ، اخلاقی ، سیاسی ، علمی واقتصادی در تاریخ بشری که یکی ازآن روز های اهم تاریخی روز گاران جامعه بشری ،میلاد باسعادت منجی بشریت، ذات مطهر آنحضرت (صلی الله علیه وسلم)میباشد که در ۱۲ ربیع الاول واقع گردیده است.

محمد (صلی الله علیه وسلم) نوری است که شرق تاغرب ازآن روشن شد، خداوند دلها را به واسطه او از علم، عمل ویقین مملو وروی زمین راعدل، رحمت وعطوفت فراگرفت. اخلاق را از رذایل پاك نمود وفضایل به واسطه اوتکمیل شد، جای شرك را در مؤمنان اخلاص وتوحید وقسك به دست آویز خدافراگرفت وبعداز انحراف از حق به هدایت واستقامت وتوفیق دست یافتند وپس از فتنه واختلاف به الفت ومحبت وبعد از قطع و دوری از یك دیگر به دوستی ومهربانی وهم دردی رسیدند وبعد ازظلم وجور وسؤ معامله باعدالت ایفای حقوق واداي واجبات مراجعه شدند.

او رحمتی بود که خدا به وسیله اش بعداز فساد صلاح وپس از بدبختی کامگاری آورد، شریعت وسیع وتعالیم ارزشمندش تضمین کننده وحدت وهم آهنگی واستقرار امنیت و راحت در جامعه اسلامی است، آنگاه که مسلمانان به ان عمل میکردند واز نور آن کسب روشنایي مینمودند از همه آنچه گفته شد برخوردار بودند ، همه سیادتها ورهبری علمي، سیاسي، کلتوری واقتصادی و ... را در جامعه بشری به عهده ویدست داشتند وچشم جامعه بشـری به آنها دوخته بود واز آنها کسب فیض وبهره مینمودند وبه شاگردی اوشان اجانب افتخار داشتند.

ولی آنگاه که نور وحی وسنت نبوی را به چیز های دیگری بدل نمودند واز حبل متین الهی دوری گزیدند واز یك دیگر مقاطعه نمودند وروگردانیدند باهم کین گرفتند غیرت دیني واخوت ایماني را از دست دادند ودر پی اغراض مختلفه ، بر آمدند ، خواهشهای نفس فزونی گرفت وهرکس فکر ونظر خودش راصایب شمرد وحق را در رأی خود وخواسته خود تصور کرد. مردم از دین به ظـواهر آن اکتفاء کردند واز حقایق روگردانیدند آنگاه آنچه به حیث عکس العمل این وضع نامیمون شان وعده شده بود تحقق پذیرفت، دشمنان در مقابل بسیج ومتحد شدند از مغاره ها وکناره ها به صحنه آمدند وبعد از شاگردی استاد و استادی را بدست آوردند.

دوستان شان متفرق گردیدند و در دوری واختلاف ومنازعه ودشمنی باقی ماندند که نتیجه آن جز ضعف بصیرت دینی واعراض از سنت سید پیامبران چیز دیگر نخواهد بود . آنها قـوانین وضعی را حاکمیت بخشیدند وکتاب خدا را پشت سر انداختند، وبه هر وادی ضلالت وگمراهی سرگردان ونالان شدند وابداً شاهد مقصود ودستگاری را به آغوش نکشیدند ونخواهند کشید همه قوتها وانرژیهای بشری ومادی شان در خدمت اجانب ودشمنانان دین و دنیا بشان قرار گرفته واز آن علیه شان استفاده میبرند وبی باکانه آنها را مورد تاخت وتاز خویش قرار میدهند واوشان هم به آن قناعت ورضایت نشان میدهند، عقد وحل همه مسایل وقضایای شان در مراکز تصمیم گیری اجانب عیسوی، یهودی ، ملحدین شرق وغرب صورت وانجام میپذیرد وبه حکم وقضاوت آنها رضایت نشان میدهند و احساس حقارت وکمی در مقابل کفار بدکار از خود نشان میدهند، این همه در نتیجه بی دوری از متابعت دین خدا وسنت آنحضرت (صلی الله علیه وسلم) به میان آمده وامت اسلامی را به خود پیچیده است.

امت اسلامی باید به خود آیند راه را از چاه ، هدایت را از ضلالت، سعادت را ازشقاوت تفکیك وتمیز نمایند و دست گدائی را که به دروازه های غیر بیها وشرقیهای صلیبی ویهود های بدکار در راز داشته اند کوتاه نمایند، به خود بسنده وراهای اتکاء به خود را در همه میادین زنده گی جستجو نمایند تا توانسته باشند که به حیث یك ملت وجامعه حر ومستقل ومتکی به خود احراز مقام وموقف در جامعه بشری نموده واین همه وقتی ممکن ومیسر شده میتواند که از هدایات وسنت مطهره آنحضرت (صلی الله علیه وسلم) همه جانبه پیروی واطاعت صورت گیرد. واین است تجلیل واقعی از میلاد پیغمبر صلی الله علیه وسلم ذات کبریا (جل جلاله) به این معنی مطلوب ما را نشاندهی می فرماید: (هست برای شما در فرستاده خدا پیروی نیك برای کسیکه به خدا وروز آخـرت امید وارست)

دمبارك میلاد په مناسبت

انسانانو د ژوند سیخه لار وموندله

غـروال

انسانی نړۍ دویری ، وحشت او بربریت په تیارو کی پټه وه، ظلم اوستم خپل تور څادر دنړی پرمخ غوړولی و، جهل او ناپوهی پرانسانانو واکمنی کوله ، د استبداد اوبی عدالتی حکم چلیدو او دانسانانو پرستونی بی منګولی ښخی کړی وی، دانسانانو په زړونو کی د واحد خدای (ج) د ویری پرځای د بتانو او باطلو اشیاو ویری ځای نیولی و، معنویت خپل ځای مادیت ته پرایښی و او دانسانانو زړونه دمعنویت پرځای دمادیت په مینه کی ووب وو، د تبعیض او ځان غوښتنی لمن غوړیدلی وه، انسانانو د ناپوهی اوجهالت په تورو تیارو کی دخپلو زړونو توتی (لوټی) ژوندی ښخولی، دانسان له خوا دانسان غلامی او دانسان له خوا انسانی حقوق ترپښو لاندی کیدل هغه عادت و چی عام رواج بی موندلی و، دخدای (ج) بندګانو دخپل خدای (ج) دبندګی پرځای دبتانو او نورو مادی اشیاو بندګی ته مخه کړی وه، دویری حقیقی مینی پرځای باطلی اوته پاتیدونکی مینی دانسانانو زړونه ښکیل کړی وو اوپه دی توګه انسانی عالی ژوند او لوړی هستی خپل حقیقی او واقعی مفهوم له لاسه ورکړی و.

خو لوی او مهربان خدای (ج) یوځل بیا دخپلو بندګانو دنجات، خلاصون اوپه سمه لاره دیون اراده وفرمایله د عربستان په صحرایی شګلنه ځمکه دمکی دغرونو په غیږ کی یی دحق روښانه نور ځلاوه او دیو واقعی ژوند ډیوه یی بله کړه چی ورسره جوخت د ویری، وحشت او بربریت ویرونکی توری تیاری په رڼا بدلی شوی ، دظلم او تورتم تور څادرخپلی پیځی د نړی له ویری ورشو څخه راونغښتی، دجهل او ناپوهی باطله واکمنی ونړیده، د استبداد اوبی عدالتی توری څپی دتبښتی لارخپله کړه ، په بتانو اوباطلو خدایانو زلزله ګډه شوه، تبعیض او ځان غوښتنی خپل ځای مینی، ورورۍ اوخپلولی ته پرېښود، جنګ او جګړه په سولی ، امنیت اوسوکاله ژوند بدله شوه ، دحق او حقیقت د روښانه پلوشو او ورانګوپه رڼا کی انسانانو دحقیقی ژوند دیون لارو موندله اوله دی سره جوخت د خدای (ج) بندګانو د زړه په پاکه مینه او دسپیڅلی عقیدی له مخی دخدای (ج) د ربښتینی بندګی په لور مخه وکړه.

هوا دانسانانو په انسانی ژوند کی دغه بدلون، دغه اوښتون او دغه مثبت تحول د خدای (ج) دبهترین استازی حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه والسلم له مبارک میلاد سره تورتم ځپلی نړی ته راغی او مهربان خدای (ج) یو ځل بیا دخپلی مهربانی او لورینی له مخی دخپل محبوب استازی حضرت محمد صلی الله علیه وسلم په واسطه خپلو بندګانو ته د ژوند سمه او سیخه لار وښودله اوپه دی توګه یی تورتم وهلو زړونو ته دحق د نور ځلاندی او روښانه وړانګی وردننه کړی او دتیارو زړونو تورتم وهلی تیاره کوڅونه یی دحق په ځلیدونکو پلوشو روښانه کړل اوپه دی توګه انسانی نړی د انسانیت او حقیقی معنوی مفهوم په ترلاسه کولو سره خپلی ټولی بدمرغی، خپلی ټولی کږ روی، اوخپلی ټولی بدبختی پرېښودی او دانسانی ژوند سیخه او مستقیمه لاره خپله کړه.

د بشریت لارښود، بهترین عالم حضرت محمد صلی الله علیه وسلم ددغه ستر تاریخی رسالت په وړاندی انسانی نړی ته نوی رنګ ورکړ، نوی ژوند یی وروبانه او دمهربان خدای (ج) له غوښتنی سره سم یی بشریت ته له تباهی او بربادی نه نجات ورکړ، دانسانی ژوند په بیلو بیلو اړخونو کی یی دخدای (ج) دسپیڅلی قانون په رڼا کی ژوندنی اومثبت تحول راوست، دحق دقانون دپلی کولو لپاره یی په هر اړخیزه توګه پراخی هلی ځلی پیل کړی انسان ته یی دځمکی پرمخ دانسانی ژوند کولو لاری چاری وروښودی اودغه عالی هدف ته ورسیدلو په لار کی دصبر استقامت . حوصلی اوزغم درس د خدای (ج) د اوامرو دمتونکی بنده نصب العین وټاکل شو او له دی سره جوخت د خدای (ج) د ربښتینی دین دخدمت په لارکی هجرت کول اوبیا د خدای (ج) ددین او دخدای (ج) د قانون دحاکمیت لپاره جهاد او قربانی د واقعی مسلمان دتګ لاری مثال وګرزید او دهمدغو بهترینو اصولو په رڼا کی مسلمانانو دخپل محبوب پیشوا، دخدای (ج) دبهترین استازی تر بهترینی رهبری لاندی ډیر ژر دنړی دګوټ ګوټ ویرو تیارو کوڅونو ته د رڼا ځلاندی پلوشی او روښانه وړانګی ورسولی اوبشریت دخلاصون اونجات لار وموندله او دخدای (ج) دقانون په رڼا کی یی دخپل انسانی ژوند دیون سیخه لار ونیوه.

اوس چی د انحضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم له مبارک میلاد څخه څه دپاسه څوارلس سوه کاله تیریږی، اوس چی د انسانانو په انسانی ژوند کی نوی تکنالوژی نړی ته نوی رنګ ورکړی دی او اوس چی دانسان فکر دکائیناتو د تسخیر لپاره هلی ځلی کوی بیا هم د خدای (ج) د ربښتینی دین په هغو سپیڅلو اساساتو کی یوه زره بدلون هم نه دی راغلی چی دحضرت محمد صلی الله علیه وسلم له خوایی بنسټ ایښودل شوی و اونه به وروسته له دی د خدای (ج) ددغه حق دین په اساساتو کی دڅه بدلون ویره احساس شی، دحضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم په واسطه راغلی دغه حق دین به چی د انسان دنیکمرغی، نیك بختی، اوپه دنیا او عقبی دکامیابی ابکی یوه لاره ده دتل لپاره باقی وی او تر هغه پوری چی دنړی پرمخ دخدای (ج) له پاکو جرماتونو څخه د الله اکبر ملکوتی او کفر ماتوونکی غږونه اوریدل کیږی داسلام دمقدس دین روښانه وړانګی به دجهل او تورتم زړونه څیری کوی، دظلم او استبداد ټغر به ټولیږی اوبی لاری انسان به دانسانی ژوند دیون لاره سرمی. صلی الله علیه واله وصحبه والسلم.

تر څو پورې چې په هیواد کې اسلامي نظام ...

هراړخیزې ویناوې وکړې، داسلامي تحریك وظلله اومشره کړنلاره یې تشریح او داسلام دخدمت په لار کې یې دطالبانو داسلامي تحریك هود او عزم بیان کړ.

مولوي حقاني په دې غونډو کې خلکوته واد ورکړ تر څو پورې چې په هیواد کې اسلامي نظام نه وي ټینګ شوی اوپه ټول هیواد کې اسلامي شریعت نه وي نافذ شوی تر هغه پورې به داسلامي تحریك دقهرمانو مجاهدینو هلې ځلې روانې وي.

ده وویل : مونږ عزم کړی دی چې دشهیدانو د وینو ثمره به تر لاسه کړو، دشهیدانو ارمانونه به پوره کړو، دیتیمانو اوچکی به پاکوو اوپه نهایت کې به د جهاد عالي اهداف لاس ته راوړو، نو تر څو پورې چې دغه لوړ مرام تر لاسه شوی نه وي مونږ به د مهربان خدای (ج) په مرسته او دخپلو مسلمانو خلکو په همکاری خپلې هلې ځلې جاري ساتو.

حقاني صاحب وویل: الحمد الله همدا اوس دلوی خدای (ج) په مرسته او دخپلو مسلمانو پرګنو په بې دریغه ملاتړ له نیمایی نه زیات افغانستان ته له ظلم اوفساد څخه نجات ورکړی شوی ، اسلامي شریعت نافذ دی، امن او استقرار منځ ته راغلی اوخلك په ډاډه زړه خپل ژوند ته دوام ورکوي.

ده وویل: زمونږ اسلامي تحریك ددغو هلو ځلو ترڅنګ عمراني چارې هم په چټکې سره پرمخ بیایی، دمثال په توګه په لسګونو فابریکې او عام المنفعه اداري فعالي شوی لکه دهرات اوهلمند دغوړیو فابریکې ، دهرات او کندهار دیخ جوړولو فابریکې، دصابون فابریکه ، دبریښنا دتولید فابریکه ، رادیو سټیشنونه اود ټیلفون دستګاوې، دخلکو دصحت اوسلامتی په غرض مو روغتونونه فعال کړي، د ښوونې اوروزنې سیستم مو فعال کړی اوهمدا اوس څه ناڅه دری نیم لکه ماشومان په زده کړه بوخت دي او دګڼې په اړه مو ګڼور پروګرامونه تر لاس لاندې نیولي دي.

ده وویل: مونږ ستاسو بچیان یو، همدا تاسو مونږ ددین د زده کړې لپاره مدرسوته لیږلي وو تر څو زمونږ په واسطه ددین دخدمت لپاره لاره اواره شي، تاسو زمونږ ټول مصارف په غاړه اخیستي وو، دګرروتو له هرډول تکلیفونو څخه موږمعاف کړي وو ، دا ددې لپاره چې یوه ورځ به مونږ ستاسو هغه ستر ارمان پوره کړو چې پخپلو مسلمانو ژوندو کې یې لري او دادی نن الحمدالله ستاسو دهغه ستر ارمان دپوره کېدو په هیله ستاسو بچیان میدان ته راوتلي او دهغه څه لپاره هلې ځلې کوي چې زمونږ دټول مسلمان ملت د زړه ارمان او حقیقي

خوښتنه ده.

زمونږ خبریال خبر راکړی چې د پکتیکا دوالي محترم عبدالباقي حقاني دغه دوره ډیره بریالۍ وه، په هره ولسوالۍ کې خلکو په پراخه پیمانه داسلامي تحریك دملاتړ ژمنه بیا تازه کړه او ددې تر څنګ یو شمیر قوماندانانو خپلې ټولې وسلې په خپله خوښه دطالبانو اسلامي تحریك ته تسلیم کړې، دمثال په توګه د تروې په ولسوالۍ کې د اتحاد اسلامي قوماندان محترم شهزاد ، دګومل په ولسوالۍ کې دحزب اسلامي قوماندان محترم محمد حسن او دجمعیت قوماندان محترم مولوي عبدالرحیم عظیمی چې دکابل د اداري دعدلیې د وزارت مرستیال هم ... خپلې ټولې سپکې او درندې وسلې دطالبانو اسلامي تحریك ته تسلیم او له دغه تحریك سره یې دخپلې هر ډول مرستې او همدردۍ وعده وکړه .

خبریال زیاتوي چې له بده مرغه کله چې داسلامي تحریك دغه دسولې او امن کاروان اورګون ته ورسید هلته دځینو مفسدینو او دغرض دخاوندانو له خوا ددوی دګومې پرموټرو ډزې وشوې که څه هم داسلامي تحریك قهرمانو ځواکونو نه غوښتل په سیمه کې جګړه پیل شي او دخلکو امنیت او ډاډمن ژوند ګډوډ شي خو دمفسدینو دبیا بیا تحریکونو او لمسونو په نتیجه کې دجګړې اوربل شو او دخلکو ارام ژوند یې ګډوډ کړ.

خبریال زیاتوي چې دطالبانو داسلامي تحریك زړورو مجاهدینو دخالد دهوایي ډګر قرار ګاه ونیوه او بیایې دتابوت په سیمه کې دخالد د لویې قرار ګاه په لور مخه وکړه، د تابوت په سیمه کې دطالبانو دځواکونو او دخالد د افرادو ترمنځ له یوې ورځې جګړې نه وروسته دسیمې علماء سپین ږیري او مشران ورغلل او د پنځو ورځو لپاره یې په دې غرض اوربند وکړ چې خالد به خپله ټوله سپکه او درنده وسله طالبانو ته تسلیموي او پخپله به دغه سیمه خوشې کوي، داوربند په دې موافقه کې محترم مولوي ارسلا رحماني اوځینو نورو علماو برخه درلوده .

خبریال زیاتوي: په اورګون کې له مسلمانو خلکو سره تر کتنې وروسته محترم مولوي عبدالباقي حقاني اراده درلوده چې دګیانخیلو هغې سیمې ته ورشي چې دغره په سر ددوو قامونو ترمنځ جګړه روانه ده او ددغو دوو قامونو ترمنځ دجګړو دبیخي پای ته رسولو په غرض داسې لاري چارې ولټوي چې دواړو خواو ته دمنلو وړ وي، خو دمفسدینو دناروا هلو ځلو له امله ددغه ګټور اقدام په تر سره کولو کې څنډ اوخنډ پېښ شو.

په هیواد کې خپل منځي خبرې ...

مبارکو آیتونو په لوستلو پیل شوه وروسته محترم مولوي شهاب الدین پخپله عالمانه وینا کې وویل: دافغانستان مسلمان اومجاهد ملت په پرله پسې توګه څوارلس کاله د روسانو په مقابل کې وجنګېدل او په ډیره میړانه او زړورتوب یې دهغوی دظلم ټغر ورټول کړ، خویه ډیر تأسف سره باید ووایو چې دجهاد په لیکو کې پخوانی دښمنی ددې سبب شوی چې په هیواد کې دخپل منځي جګړو اوربل کړي او نتیجه داشوه چې دجهاد عالي اهداف ترخاورو لاندې شول.

ده وویل دا چې خپل منځي جګړې خپل اوج ته ورسیدې او په هیواد کې دظلم او فساد لمن خوره شوه. نو دملامحمد عمر په مشرۍ دیوه تاریخي ضرورت له مخې دطالبانو اسلامي تحریك پیل اوپه ډیره لږه موده کې یې دمسلمان ملت په ملاتړ له نیمایي نه زیات افغانستان له ظلم اوفساد څخه خلاص کړ او اوس ددې اسلامي تحریك تر واکمنۍ لاندې سیمو کې پوره امن او استقرار ټینګ دی. په ده پسې دطالبانو د اسلامي تحریك مبارز غړي شیخ الحدیث حضرت مولنا محمدصادق په خپله عالمانه او هر اړخیزه وینا کې دحضرت بهترین عالم محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم نړۍ ته د راتګ دضرورت په اړه ګټور مطالب بیان کړل، د بدر او احد د غزاګانو په اړه یې تفصیلي خبرې وکړې او پخپله وینا کې یې دطالبانو داسلامي تحریك اهدافو ته ګوته ونیوه وې ویل اسلامي حکومت هر وخت دوینو د توپولو په نتیجه کې منځ ته راغلی او په دې لړ کې رسول اکرم صلی الله علیه وسلم او اصحابو کرامو زیاتې قربانۍ ورکړې دي، اوس هم اسلام قربانۍ ته ضرورت لري، دا چې په هیواد کې ظلم ، فساد او ناوړه چارې خپل اوج ته ورسیدې نو دطالبانو اسلامي تحریك هیواد ته له دغه ستر بحران څخه دنجات په غرض راپورته شو اومونږ په دې باور

لرو چې لکه دنیمایي افغانستان په شان به په نور هیواد کې هم ظلم اوفساد له منځه ځي، نو مونږ ټولو ته لازمه ده چې دطالبانو د اسلامي تحریك تر څنګ ودرېږو اوپه دغه اسلامي فریضه کې شریك شو.

ترده وروسته محترم مولوي محمد حسن په خپله وینا کې دعلماو کرامو تاریخي کارنامې یادې کړې او دطالبانو داسلامي تحریك له اهدافو سره یې تماس ونیو وروسته محترم مولوي صالح محمد هم پخپله عالمانه وینا کې دطالبانو داسلامي تحریك د اهدافو په اړه اوږدې خبرې وکړې او له دغه تحریك سره یې دهر ډول مرستې اوملاتړ وعده وکړه.

په غونډه کې دناصر باغ دکمپ دمهاجرینو په نمایندګی ملك ظاهر وینا وکړه او دطالبانو له اسلامي تحریك سره یې دخپلې مرستې اوهمکارۍ وعده وکړه ویې ویل چې دافغانستان اوسنی حالت نه هیڅوك تغیر نشي ورکولای یواځې دطالبانو اسلامي تحریك کولای شي چې دخپلو رغنده هلو ځلو له برکته هیواد ته نجات ورکړي.

ده زیاته کړه: مونږ دافغانستان دټولو ولایتونو حالات لیدلي دي، خو دطالبانو ترکنترول لاندې سیمو کې واقعاً اسلامي نظام واکمن او شریعت نافذ دی، نو مونږ ټولو ته پکار دی چې ددغه اسلامي تحریك ترڅنګ ودرېږو تر څوپه نور افغانستان کې هم دظلم اوفساد ټغر ټول اوهیوادوال له دغه بحران څخه نجات ومومي .

خبریال زیاتوي چې په دې پرتمینه غونډه کې مولوي صالح محمد حقاني او مولوي نوراغا هم پخپل وار عالمانه اومهمې وینا وې وکړې او دهیواد دناوړه حالاتو په اړه یې خپل نظریات وړاندې کړل.

غونډه په ګران هیواد کې داسلامي نظام د ټینګښت ، اسلامي شریعت دتاتفذېدو، امن او استقرار د راتلو په دوعا پای ته ورسیده.

اصلي جهاد هغه ده چې ...

پرتمینه غونډه وشوه.

غونډه دعظیم الشان قرآن دڅو مبارکو آیتونو په تلاوت پیل شوه وروسته محترم مولوي سیف الدین پخپله عالمانه وینا کې وویل: اصلي جهاد هغه دی چې دالله د رضا لپاره وي دخدای (ج) دمخلوق دخدمت لپاره وي اوپه صداقت او رښتینولي ولاړ وي.

ترده وروسته محترم مولوي نور محمد ثاقب پخپله ګټوره وینا کې وویل: په نړۍ کې دوه ډوله ملکونه موجود دي چې یوې اسلامي اوبل ډول یې غیر اسلامي دي، خو په اسلامي هیوادونو کې ځینې هیوادونه دغیر اسلامي هیوادونو تر تاثیر لاندې دي او کوښښ کوي چې پخپلو ملکونو کې غیر اسلامي نظام حاکم کړي، په دغه شان هیوادونوکې مخلص اوبا درده مسلمانان هم

تمریږي دی ، نوپه دغه شان هیوادونو کې داسلامي نظام د راوستلو لپاره سخت ضرورت دی.

ده وویل: همدا اوس شرمي اوغریبي ټول هیوادونه دطالبانو له اسلامي تحریك څخه په ویره کې دي اودانه شي زغملی چې څه افغانستان کې دې دطالبانو د اسلامي تحریك په لاس اسلامي نظام منځ ته راشي.

تر ده وروسته د اطلاعاتو اوکلتور د ادب اوهنر مسئول محترم ملا عبدالاحد اخند پخپله وینا کې وویل: کوم بریالیتوبونه چې طالبانو ترلاسه کړي دي دا ددوی دښو اخلاقو او نیکو عملونو نتیجه ده او که خدای مه کړه زمونږ په اعمالو کې کوم بدلون راشي، نو تاسو باور ولرئ چې ددنیا او آخرت له تاوان سره به مخامخ شو.

خبریال زیاتوي چې په دې غونډه کې دطلوع افغان دجریدې مسئول محترم میرویس باوري محترم مولوي خلیل الله ... محترم مولوي محمد ... ، دعالي شورى غړي محترم احسان الله هم ګټورې وینا وې وکړې.

غونډه دمحترم مولوي رحیم الله په دوعاتیه وینا سره پای ته ورسیده.

په مسکوکی دائتلافي ...

پرسونل په واسطه افغاني پولیسانو ته روزنه ورکول کیده، خو دثور له کودتا سره جوخت دغه کار روسانو ته وسپارل شو او دکورنیو چارو وزارت بالکل روسي بڼه خپله کړه.

اوس چې په هیواد کې کمونستي رژیم راپرزېدلی دی لازمه خو دا وه چې د روسانو ټولې نښې نښانې له دغه مهم وزارت څخه له منځه وړل شوی وای خو نن په نامه اسلامي حکومت دخپلو پخوانیو پټو اړیکو د ژوندي ساتلو په غرض دا دي بوځل بیا روسانو ته ځانګړي غوږونه او دکورنیو چارو په ډیر مهم وزارت کې دهغوی دلاس لرلو زمینه برابروي.

خومونږ په داسې حال کې چې دکابل دائتلافي اداري دغه عمل سخت غندو روسانو ته خبر داري ورکوو چې بیا دې زمونږ په کورنیو چارو کې له لاس وهنې څخه ډډه وکړي او که نه نو له یوبل سخت ګوزار سره به مخامخ شي.

زمونږ د دوستۍ معیار تقوی ...

ځواب: زښتیا هم چې په غزني کې دطالبانو د تحریك له راتلو نه مخکې تسنی اداره موجوده وه ، خو څنګه اداره ۲ دلته ټولې دولتي اداري دتنظیمونو ترمنځ ویشل شوې وې ، دکوم تنظیم چې کومه اداره رسیدلې وه هغه دهغه شخصي ملکیت و ، هیڅوا ددې صلاحیت نه درلود چې دبل تنظیم په واك کې په اداره باندې اعتراض وکړي، څه چې ددوی زړه غوښتل هغه یې کول ، له کابل څخه یې چې په هره اندازه پیسې راوړې، ددې پرځای چې دملت په ګټه یې په کار واچوي او یا یې په اداري چارو ولګوي پخپلو منځو کې به یې سره ویشلې او خپل جیبونه به یې ډکول.

خو الحمدالله کله چې اداره دطالبانو لاس ته ورغله دغه ټول مشکلات حل شول مامورین دولتي اداري خپل شخصي ملکیت نه بولي بلکې دا دیو امانت په توګه سپالوي او ټول فکر کوي چې یو اجتماعي مسئولیت ورسپارل شوی، او باید چې سرته یې ورسوي، مونږ هره ورځ د رسمي کارونو له پای ته رسیدو سره دلوړ رتبه مامورینو شوری جوړوو او د ورځې ټول کارونه ارزیابي کوو، مثبت اومنفي اړخونه څیړو او دکارونو دلانبه والي لپاره لارې چارې لټوو.

پوښتنه : ستاسو دماموریت په دوره کې چې کوم مشر کارونه سرته رسیدلي که درئو لوستونکو ته معلومات ورکړئ بی ګټې به نه وي .

ځواب: الحمد الله دلوی خدای (ج) په مرسته الا دخپلو مسلمانو خلکو په بې دریغه همکاري مونږ یو لړ زیات ټولنیز اوعام المنفعه کارونه سرته رسولي دي لکه دعامي روغتیا په برخه کې دځینو خیریه مؤسسو په مرسته د مرکز روغتون فعال شوی، داخلي سرویس او جراحي سرویس په کامیابی سره دناروغانو تداوی کوي، په ولسوالیو کې مو روغتیایي کلینیکونه فعال کړي او دخلکو په خدمت کې بوخت دي، دښوونې اوروزنې په برخه کې باید ووایم چې تر اوسه پورې مو په غزني کې ۲۵۰ لومړنی ښوونځي او پنځه لیسې فعالې کړي چې دوطن بچیان پکې په زده کړه بوخت دي.

دکابل د نوي ائتلاف په اړه محترم والي صاحب وویل: دا ائتلاف نه دی بلکې په بشپړه توګه دکابل اداري ته د حکمتیار تسلیمېدل دي ځکه همدا اوس پخپله حکمتیار او دده کسانو ته په ښه سترګه نه کتل کیږي.

دخپلې مرکې په پای کې محترم والي صاحب پرټولو هیوادوالو غږ وکړ پرته له دې چې ژبني ، سمتي او نژادي تمایلات په پام کې ونیول شي ټول افغانان باید د خدای (ج) د رضا لپاره کار وکړي او یو بل ته په لاس ورکولو سره په کلکواله بدل شوي وطن بیا ودان کړي او زیاته یې کړه زمونږ د دوستۍ معیار تقوی او پرهیزګاري ده ، هرڅوك چې ښه مسلمان وي دقرآن ، احادیثو اوحنفي فقهې پیرو وي زمونږ دوست دی او په همدې معیار وورسره چلند کوو.

د طالبانو نشتوالي د عالمانو ...

تنظیمه رئیس محترم ملا محمد حسن اخند، دعالي شورى غړي محترم ملا احسان الله احسان او محترم ملا امیر خان متقي هم حاضر وو.

خبرګاى زیاتوي دغونډې په ترځ کې دهیواد په سیاسي اونظامي حالاتو مفصلي خبرې وشوې او دمشکلاتو دحل په منظور دنظریاتو تبادله وشوه .

خبریال زیاتوي دخبرو په ترځ کې محترم مولوي محمد یونس خالص دغربي رادیوګانو

هغه خبرې رد کړې چې په نوي ائتلاف کې دمشرقي شوری هم شامله ده وې ویل زه هرګز داسې خبرې ته حاضر نه یم چې له داسې خلکو سره ائتلاف وکړم او نه هم دمشرقي ولایتونو شوری د داسې منلو ته تیاره ده.

مولوي صاحب وویل: دطالبانو نشتوالي دعالمانو نشتوالي دی او دطالبانو په نشتوالي زه هم نیست یم

په هرات کې دیرش تنه سیاسي مخالفین بالکل نه دی وژل شوي

ښه داده چې دغه نړیواله مؤسسه کندهار اوهرات ته لاړشي، حقایق له نږدې څخه وګوري او بیا نړیوالو ته واقعیتونه بیان کړي (مولوی امیرخان متقي)

د عفوی نړیوالې مؤسسې په دې وروستیو وختونو کې ټور ولګاوه چې ګواکې دطالبانو په سیمو کې دجولای په پنځلسمه نیټه دیرش تنه بندیان له بند څخه را ایستل شوي او وژل شوي دي.

په دې اړه د اطلاعاتو او کلتور رئیس محترم مولوي امیر خان متقي امریکا غږ راډیو سره په یوه مرکه کې داسې وویل: دامؤسسه او نوري مؤسسې دې دطالبانو تر کنټرول لاندې سیمو ته ورشي اوحقایق دې له نږدې څخه وګوري .

ده وویل: اصلاً داخبره کاملاً بې اساسه ده، په هرات کې دیرش تنه سیاسي مخالفین بالکل نه دي وژل شوي، البته دهرات ولایت په بیلو بیلو سیمو کې یو شمیر غله او ډاکوان چې دخلکو ژوند یې په خطر کې اچاوه ، ډاکې به یې اچولې، دموټرو سپرلي یې شکولې، ددغو کسانو دګرفتارۍ لپاره د طالبانو ځواکونو عملیات کړي اودمقاومت په نتیجه کې یوشمیر دغه شان کسان وژل شوي دي.

ده وویل: په دې سربیره علاء الدین خان چې دخپلو ملګرو له خوا وژل شوی بله کومه داسې پیښه نه ده شوی چې دطالبانو په اسلامي تحریك ترو ولګول شي، ښه داده چې دغه مؤسسات کندهار او هرات ته ولاړشي ، حقایق له نږدې څخه وګوري او بیا نړیوالو ته واقعیتونه بیان کړي.

دهرات دملي امنیت مسئول له شریعت اونیزې سره په مرکه کې :

له بده مرغه د ایران حکومت له اسماعیل خان سره زیاتي مالي اونظامي مرستي کوي

له موږسره ټول هغه تشکیلات موجوددي چې دایران حکومت درباني ملیشو ته غت معاشات ورکوي.

پوښتنه: جناب برهاني صاحب، تاسو په هرات کي دملي امنیت دمسئول په توګه کارکوي چې ډیر مهم پوست دي، مهرباني وکړي دخپلو مهمو کارنامو په هکله باندي چې تاسو تر سره کړي دي لوستونکو ته څه معلومات ورکړي!

ځواب: تر اوسه پوري دملي امنیت کارونه د هرات په ولایت کي ډیر د اطمینان وړدي، ملګري په ډیر اخلاص او صداقت سره کار کوي . ددوي دفعالیت په برکت مونږ دهیواد ددښمنانو ډیري دسیسي کشف کړي اوخنثی کړي دي . مونږ تر اوسه پوري د یونو د داسي مخابروي او ټیلفوني سیټونه کشف کړي دي چې دجرمني سیستم د مخابرو اوټیلفون په شکل کي عیار شوي وو چې دانسان د وژلو باعث ګرزیدل، او دا دتجارتي ترکریه شکل د ایران له خوا هرات ته راتلل.

خو د لوی خدای (ج) په فضل د ملګرو په مرسته هغه موږ کشف او دسیسه مرختې کړه.

پوښتنه: ددي دپاره چې استخبارات ډیره مهمه ، حساسه او خطرناکه څانګه ده ، تاسو د اسلامي اطلاعاتو په روحیه او اخلاقو تر اوسه پوري څوك روزلي اوکه څنګه !

ځواب: په دي اړوند مونږ څه کورسونه دایر کړي دي. چې داستخباراتو یو مؤثر سیستم رامنځ ته کړو چې په هغه کي اسلامي اخلاق مراعات شوي وي. مونږ دحضرت محمد صلي الله علیه وسلم له هغه استخباراتي سیستم نه بشپړه ګټه اخلو چې دیهودو، نصاراوو، روميانو او فارسیانو په هکله به یې په کار اچول . د جرایمو او واقعاتو دکشف په اړوند مونږ د رسول صلي الله علیه وسلم دغه اصل په بشپړه توګه عملي کوو چې فرمایل به یې: «اذا رأیتم شیاً مثل شمس فاشهد وه والافدعوه» (هغه څه چې دلمر په شان درته ښکاره شول نو ګواهي ورباندي ورکړي، او که نه نو پریږدي » ترڅو چې یوڅه په څرګند و دلایلو باندي معلوم نه وي، دهغه په هکله عملي اجرآت نه کوو.

پوښتنه : دهرات عمومي امنیتي وضع څنګه ده؟

ځواب: دغور ولایت دفتح کیدلو نه مخکي اشرارو څه تشویش ایجاد کړي وو ، خو کله چې غور فتح شو او دوي ته زیات تاوانونه ورواوښتل، اوس په بشپړه توګه وضع اطمیناني ده هیڅ خطر نه محسوسیږي.

پوښتنه : د ایران حکومت له اسمعیل سره مرسته کوي چې په هرات کي امنیت ګډوډ کړي، دکابل د اداري سره هر اړخیزه نظامي او سیاسي مرستي کوي. په دي اړوند ستاسي تبصره څه ده؟

ځواب: له بده مرغه د ایران حکومت له اسمعیل سره بې اندازي مالي اونظامي مرستي کوي. دي نه یې هڅوي چې دهرات امنیتي وضع ګډوډه کړي خو تراوسه دلوي خداي (ج) په فضل سره هیڅ نه دي توانیدلي. دهرات غیرتمن او بااېمانه خلك دطالبانو داسلامي تحریك سره ملګري دي. داسي معلومیږي چې ددوي مرګ به دخپلو ملګرو له لاسه وي، ځکه هغوي دایران دغه بې شرمانه مداخلي داسمعیل په واسطه یوملي اواسلامي خیانت بولي. له مونږه سره ټول هغه تشکیلات مرجود دي، چې دایران حکومت په زیاته پیمانه درباني ملیشوته معاشات ورکوي. دهرات او بدخشان خلك په زور د ایراني پاسدارانو په لاس کمپونو ته بیول کیږي، په غټو معاشاتو باندي د جګړې دپاره تشویقیږي او نظامي تربیه ورکوي اوحتي له مونږ سره شواهد دي چې دځینو جدیدو وسلو د زده کړې دپاره له فرانسې څخه استادان استخدام شوي دي . او په اردو ګاهونو کي جبري تیول شوکسانوته تربیه ورکوي.

یوسلو اویا میله کلاشینکوف ونیول شول

له غزنی ولایت څخه زمونږ خبریال خبر راکوي‌چې دغزنی دښار امنیتي ځواکونو دښاریه شاوخواکی په ۱۷۰ میله کلاشینکوفونو او مهماتو بار یوه لاری ونیوه.

دغه وسله چې په غیر قانوني توګه لیږدول کیده داسلامي تحریك دباخبره ځواکونو له خوا کشف او ونیول شوه. وسله او مهمات دولتي وبیوګانو ته سپارل شوي او قضیه تر تحقیق لاندې ده.

SHRIAT WEEKLY

Editor-in-Chief : Molvi Ahmad Jan.

PAK-RUPE A/C; CD. No. 1694-69

Habib Bank LTD. Tehkal Bala Branch

Peshawar Pakistan

یادونه

ښایي ستاسو ایمان به اجازه در نکړي چې دا ډول سپیڅلې پاڼې په ناوړو ځایونو کېښې وغورځوی.

(اداره)

د ګهون بیه	شپږمیاشتنی	کالنی
پاکستان	Rs. 200	Rs. 400
د خلیج هیوادونه	SR. 150	SR: 300
اروپا او امریکا	S.75	S.150

تورم تاریخی پولی در کشور

افغانستان در اثر جنگ این دو دهه اخیر مقابل کمونستها وپاداران روسی شان ودر اثر جنگهای خونین قدرت طلبی این چهار سال اخیر نزدیك به همه امکانیات ووسایل فعال اقتصادی ومادی خود را از دست داده واز امکانیات بالقوه اقتصادی که از این ناحیه نسبت به بسیاری از کشور های جهان غنی میباشد توانایی استفاده را برای فعلاً نداشته وباید از کمکها و تجارب دیگران در زمینه استفاده نموده به شکل تدریجی وقدم به قدم وضعیت خراب وتراب اقتصادی ومادی خویش را رونق وانکشاف بخشد.

البته درایجاد وکار برد روابط سیاسی ،اقتصادی ، کلتوری و... ضوابط دینی ومنافع علیای ملی جدی وهمه جانبه مطمح نظر بوده ، انچه برای بهبود وضع اقتصادی کشور شده میتواند نباید دقیقه ئی اهمال وفروگذاشت در این مورد صورت گیرد ، وفرصتهای مفید وبه اصطلاح طلائی را ضایع واز دست داده وبه انتظار فردا ومهیا شدن شرایط موهومی چنین وچنان شد. ملت عزیز ومجاهد افغانستان که بار بزرگترین وطویل ترین جنك تحمیلی را مقابل تجاوز مستقیم وغیر مستقیم روس در منطقه بدوش کشید ولله الحمد بنصرت خداوندی در این آزمون وابتلاء بزرگ تاریخ پیروز بدرآمد وکامیابی حق علیه باطل را در تاریخ کره خاکی رقم زد، از هر دور وزمانی دیگر کرده دست خوش شدید ترین بحران اقتصادی بوده وبه تکلیف ورنج های بی پایانی لقمه ئی بدست آورده ، قوت لایموت شبانه روزی خود را می نمایند، وحتی گفته میشود هستند کسانی که غرض حصول لقمه بي نانی بزرگترین ویا ارزشترین متاع وسرمایه زنده گی (عفت) که برای یك مسلمان وآنهم افغان هیچ چیز به پایه آن رسیده نمیتواند درداخل کشور وخارج از آن دردیار هجرت از دست میدهند و فرزندان دلبند خویش را به بازار غرض فروش عرضه میدارند وهستند پدر انیکه در این کشاکش پرصعب وطاقت فرسائی زنده گی شکست خورده به خود کشی وانتحار متوصل میکردند . والی الله المشتکی والی الله المصیر.

اداره ائتلافی کابل که در نتیجه یك سازش وتوطئه ئی سیکرمتی متکی بر برتری لسانی وقومی به ابتکار وهمکاری خارجی ها به خصوص ایران وروس به میان آمد.

منجر به فاجعه ئی تاریخی گردید که همه سیستمهای فعال اداری ، نظامی، سیاسي، تعلیمی ،فرهنگی را از هم متلاشی ومتواری گردانیده وضربه جبران ناپذیری بر بنیه اقتصادی کشور وارد نمود همه ذخایر طلا واسعار معتبر خارجی که پشتوانه پولی کشور را تشکیل میداد از بانکها توسط تفنگ داران شوری نظار چور وچپاول گردید ویا همچون اشیای قیمتی تاریخی دیگری توسط زمامداران اداره ائتلافی به خارج منتقل گردید .

شوری نظار غرض خرید وجلب افراد مسلح وجنگ جو و اعمال نفوذ بیشتر بر ماشین حکومت ودولت برای اولین بار در تاریخ کشور بچاپ پولی بی پشتوانه در روسیه اقدام کرد و در زمینه به حد افراط نمود که کشور را بیك تورم تاریخی پولی مواجه گردانیدو روز تا روز ارزش پول افغانی در مقابل اسعار خارجی قیمت خود را از دست میدهد در این روزها یك لك افغانی در بازار صرافی پشاور به دوصد کلدار تبادله گردید. وآژانسهای خبری خبر چاپ افغانی توسط حاجی عبدالقدیر والی ننگرهار را بنشر سپاریدند وجنرال دوستم وحزب اسلامي از پیش به چاپ افغانی اقدام نموده بودند ، این طور اعمال وحرکات از طرف هرکس وگروه که باشد قابل تائید نبوده ،بازی وملعبه واضح وجرأت مندانه ئی است بر منافع ملی واقتصادی کشور که این عمل از ارزش پول رایج کشور کاسته وبحران پولی را تشدید می بخشد.

تحریك اسلامی طالبان که در بیشتر از نصف کشور بنصرت خداوندی ویاری ملت مسلمان افغان به متانت وقاطعیت به تأمین امنیت واستقرار نظم که اساسی ترین واولین شرط ارتقاً ورشد هرپروسه مادی ومعنوی ، سیاسی واقتصادی در هر جامعه واجتماع پنداشته شده توسط اجرا، قوانین جزائی اسلام ، موفق گردیده اند . یقین میرود که تحریك به این موفقیت ابدائی ومقدماتی بسنده نشده وآنرا نهایي نه پندارند بلکه به تعقیب این قدم موفقانه خویش که زمینه را برای قدمهای اساسی بیشتری بعدی غرض احیا ،رشد وارتقا، نظام اداری ، تعلیمی ، سیاسي، نظامی واقتصادی مهیا، وآماده میکرداند برداشته تا اگر توانسته باشند به این واسطه رسالت ومسئولیت خطیر وبزرگ خود را در راه اعمار وبازسازی مجدد کشور کم وبیش انجام دهند. وشرایط مساعد و بهتری زنده گی اقتصادی را برای هم وطنان رنجیده ومظلوم خود آماده ساخته وملت مظلوم را از این تراژیدی درد آور فعلی به یاری خداوند نجات دهند. گرچه تحریك بافقدان وناچیز بودن امکانیات مادی وفنی در دست داشته خود وعدم همکاری موسسات بین المللی خارجی قادر گردیده است که به پشت کار واخلاص کم نظیری فرزندان والا همت تحریك وهم کاری بی دریغ مردم در ساحات تعلیم وتربیه، فرهنگ، کارهای عام المنفعه و عمرانی واجتماعی دیگری قدمهای مهم ومفیدی بر دارد. ودر این روز ها که کشور به بحران شدیدی پولی وانقلاسیون تاریخی روبرو بوده غرض تخفیف این بحران پولی در کشور وجلوگیری از سقوط بیشتر نرخ افغانی در مقابل اسعار خارجی ، تحریك اسلامی به مشوره متخصصین اقتصادی ، تجار، صرافان، افراد و گروهای ذیدخل معاملات پولی واقتصادی کشور ،طرق عملی ومفیدی حل مشکل جاری پولی واقتصادی را یافته و در روشنی آن تصامیم لازم ومقتضی را اتخاذ مینمایند که به حال اکثریت قاطع هم وطنان ما واقتصاد کشور مفید وعملی باشد.

این عمل ابتکاری تحریك نشان دهنده دخیل ساختن آرا، ونظریات هم وطنان ما درمسایل مهم وحیاتی کشور واستفاده از تجارب واندوخته های علمی وعملی آنها میباشد، امیدواریم که این عمل وپروسه مفر ، محدود در همین مورد وموضوع نماند بلکه در همه قضایای عمده ومهم اجتماعی سیاسی ، فرهنگی و... ودر جای اتخاذ تصامیم در آن موارد به آرا، ونظریات هم وطنان وبالاخص کدرهای فنی ، متخصص وتجربه کار مراجعه شده از نظریات، مشوره ها وتجارب فنی آنها استفاده اعظمی صورت گیرد.

واز جانب دیگر وظیفه ووجیبه عمده واساسی دینی،ملی وتاریخی ، دانشمندان ، کدرهای فنی ومتخصص (تکنوکراتها) مؤمن ووطن دوست کشور است که به فرایض ووجایب خود در قبال اسلام ، ملت ووطن همه جانبه متوجه شده مخلصانه در کنار تحریك اسلامی طالبان با درنظر داشت شرایط عینی وذهنی جامعه قرار گیرند واز این طریق گمان میرود که مصدر خدمت مفید وعملی به دین ووطن خود خواهند شد. ان شاء الله .